تذکرہ اولیائے پاکستان افغانستان

د مشرق او مغربی پاکستان مشاهیر
اولیاء الله او عالمانو حالات

روحانی رابطه

او

روحانی ترون

جلد اول

مؤلف
عبدالحلیم اثر افغانی

مکتبہ حضرت سید نجات قلندر علیہ الرحمہ
قریہ ھونی سیدان

فہرست

نمبر شمار	عنوان	زمانہ	صفحہ
۱	فہرست حوالہ و کتابونو		۶
۲	تشکر		۱۲
۳	ترون		۲۶
۴	دیباچہ		۲۹
۵	تقریظ از حافظ محمد ادریس مرحوم	۹ ستمبر ۱۹۶۳ء	۳۸
۶	تقریظ از محمد یونس سیتھی	۱۰ اکتوبر ۱۹۶۳ء	۴۲
۷	تقریظ از سید نصر من اللہ مشوانی	۱۶ اکتوبر ۱۹۶۳ء	۴۶
۸	تقریظ از خان عبدالودود خان	۱۴ نومبر ۱۹۶۳ء	۵۰
۹	تقریظ از شیخ محمد حسین صاحب	۲۵ نومبر ۱۹۶۳ء	۵۲
۱۰	حضرت سنان ابن محنق مذلی المعروف بہ اصحاب یا یار رضی اللہ عنہ۔ شہید	سنہ ۴۵ ھ	۵۶
۱۱	سید جلال بخاری گنج علم شہید	سنہ ۳۹۲ ھ	۶۴
۱۲	مولانا عمی ابن یوسف دلازاک	سنہ ۳۹۳ ھ	۶۸
۱۳	حضرت داتا گنج بخش لاہوری	سنہ ۴۸۵ ھ	۷۱
۱۴	حضرت مدیح بابا چشتی	سنہ ۴۰۰ ھ	۱۳۰
۱۵	شیخ ابوبکر صالح	سنہ ھ	۱۳۵
۱۶	حضرت آتو شوریانی خویشکی	سنہ ۵۴۷ ھ	۱۳۶
۱۷	حضرت محی الدین شیخ عبدالقادر جیلانی	سنہ ۵۶۲ ھ	۱۴۵
۱۸	حضرت سخی سرور سلطان	سنہ ۵۷۷ ھ	۱۵۸

نمبر شمار	عنوان	زمانہ	صفحہ
۱۹	سلطان بختیار خلجی، شرقی پاکستان	سنہ ۶۰۲ ھ	۱۶۳
۲۰	سید امیر کبیر۔ سندھی	سنہ ۶۳۰ ھ	۱۷۲
۲۱	شیخ شہاب الدین، سہروردی	سنہ ۶۳۲ ھ	۱۷۶
۲۲	حضرت خواجہ معین الدین حسن چشتی	سنہ ۶۳۲ ھ	۱۸۰
۲۳	حضرت سید مبارک غزنوی	سنہ ۶۳۲ ھ	۲۳۲
۲۴	حضرت لعل شہباز قلندر سہروردی	سنہ ۶۵۰ ھ	۲۳۱
۲۵	حضرت ابراہیم دانشمند انصاری	سنہ ۶۶۰ ھ	۲۴۵
۲۶	حضرت شیخ بہاالدین ذکریا ملتانی	سنہ ۶۶۶ ھ	۲۴۹
۲۷	خواجہ بابا فرید گنج	سنہ ۶۷۰ ھ	۲۶۱
۲۸	حضرت جلال الدین میر سرخ بخاری	سنہ ۶۹۰ ھ	۲۷۴
۲۹	اولیائے مشرقی پاکستان	———	۲۸۸
۳۰	شیخ شرف الدین ترالہ	سنہ ۷۲۵ ھ	۲۹۹
۳۱	شیخ جلال الدین تبریزی	سنہ ۷۴۳ ھ	۳۰۵
۳۲	سلطان فخرالدین مبارک شاہ	سنہ ۷۴۷ ھ	۳۰۵
۳۳	سلطان علاء الدین علیشاہ	سنہ ۷۴۷ ھ	۳۱۰
۳۴	حاجی الیاس شاہ	سنہ ۷۵۱ ھ	۳۲۲
۳۵	غیاث الدین اعظم شاہ	سنہ ۷۸۶ ھ / ۸۰۱ ھ	۳۲۳
۳۶	مولانا سراج الدین عطاء	سنہ ۷۱۵ ھ	۳۲۴
۳۷	حضرت شیخ راجہ بیابانی	سنہ ۷۵۰ ھ	۳۲۹
۳۸	عثمان اخی سراج	سنہ ۷۵۳ ھ	۳۳۱
۳۹	شیخ علاء الحق	سنہ ۷۸۳ ھ	۳۳۴
۴۰	حضرت مخدوم جہانیان	سنہ ۷۸۸ ھ	۳۳۷

نمبر شمار	عنوان	زمانہ	صفحہ
۴۱	خواجہ بہاء الدین نقشبندی	۷۹۱ سنہ ھ	۳۶۰
۴۲	حضرت بدر عالم زاھدی	۷۹۴ سنہ ھ	۳۶۹
۴۳	قاضی سراج الدین صدیقی	۸۰۰ سنہ ھ	۳۷۹
۴۴	نور قطب عالم	۸۱۸ سنہ ھ	۳۸۴
۴۵	حضرت پیر قتال زاھدی	۸۲۱ سنہ ھ	۳۸۶
۴۶	حضرت خواجہ محمد کیسو دراز ثانی	۸۲۵ سنہ ھ	۳۸۵
۴۷	سید محمد کیسو دراز اول	۸۰۰ سنہ ھ	۳۸۸
۴۸	سید نا آدم بنوری	۱۰۵۳ سنہ ھ	۴۰۳
۴۹	سادات تارن	———	۴۰۵
۵۰	سید نا محمد طاھر الحسینی	۸۰۰ سنہ ھ	۴۰۵
۵۱	خواجہ یحیٰی کبیر غور غشتی	۸۳۴ سنہ ھ	۴۰۷
۵۲	شیخ صدر الدین صدر جہان	۹۳۲ سنہ ھ	۴۱۵
۵۳	حضرت سید علی ترمذی، پیر بابا	۹۹۱ سنہ ھ	۴۲۰
۵۴	مولانا شیخ احمد سون	۱۰۳۰ سنہ ھ	۴۴۷
۵۵	حضرت سید پیر ابراھیم بخاری	۱۰۳۳ سنہ ھ	۴۵۴
۵۶	مولانا عبد الوھاب اخون پنجو بابا	۱۰۴۰ سنہ ھ	۴۵۹
۵۷	شیخ محمد طاھر بندگی	//	۵۰۵
۵۸	حضرت مولانا اخوند درویزہ	۱۰۴۸ سنہ ھ	۵۰۹
۵۹	شیخ سید خواجہ ذکریا	۱۰۵۵ سنہ ھ	۵۴۳
۶۰	اخوند محمد یونس گیلانی	۱۰۵۹ سنہ ھ	۵۵۴
۶۱	شیخ امام الدین خلیل	۱۰۶۰ سنہ ھ	۵۶۶
۶۲	حضرت شیخ رھکر کاکا صاحب	۱۰۶۳ سنہ ھ	۵۷۱

نمبر شمار	عنوان	زمانہ	صفحہ
۶۳	شیخ حمید دا شمند (سوڑی پاکستان)	۱۰۶۳ سنہ ھ	۵۹۰
۶۴	شیخ حاجی بہادر کوھاٹی	۱۰۷۸ یا ۱۰۹۰ سنہ ھ	۵۹۵
۶۵	حضرت اخونہ الیاس یوسفزائی	۱۰۸۶ سنہ ھ	۶۱۲
۶۶	حضرت شیخ حبیب پشاوری	۱۰۹۳ سنہ ھ	۶۲۳
۶۷	حضرت اخوند مامون یوسفزایی	۱۰۹۹ سنہ ھ	۶۲۵
۶۸	مولانا سعد اللہ خان وزیر آبادی	۱۱۰۲ سنہ ھ	۶۲۷
۶۹	مولانا شیخ سعدی لاھوری	۱۱۰۸ سنہ ھ	۶۳۰
۷۰	مولانا سید محمد قطب بنوری	۱۱۰۸ سنہ ھ	۶۳۳
۷۱	حضرت مولانا محمد اسماعیل غوری	۱۱۱۱ سنہ ھ	۶۳۷
۷۲	حضرت پیر سید حسن پشاوری	۱۱۱۵ سنہ ھ	۶۳۹
۷۳	حضرت شیخ عبد الغفور پشاوری	۱۱۱۶ سنہ ھ	۶۴۸
۷۴	حضرت میاں عبد الحئی سندھی	۱۱۱۷ سنہ ھ	۶۵۴
۷۵	حضرت اخوند میاں نعیم	۱۱۲۱ سنہ ھ	۶۶۳
۷۶	حضرت شیخ محمد یحیٰی دانک	۱۱۳۱ سنہ ھ	۶۶۵
۷۷	حضرت شیخ شہباز قلندر قادری	۱۱۳۳ سنہ ھ	۶۷۵
۷۸	حضرت شیخ شہباز مہسد	۱۱۴۶ سنہ ھ	۶۷۷
۷۹	حضرت شاہ محمد غوث قادری لاھوری	۱۱۵۲ سنہ ھ	۶۷۸
۸۰	حضرت میاں عبد الحکیم کاکڑ	۱۱۵۳ سنہ ھ	۶۹۴
۸۱	حضرت شاہ عبد الرحیم (سوڑی پاکستان)	۱۱۵۸ سنہ ھ	۷۰۷
۸۲	حضرت شیخ جنید پشاوری	۱۱۶۲ سنہ ھ	۷۰۹
۸۳	حضرت شاہ عبد اللطیف بھٹائی	۱۱۶۵ سنہ ھ	۷۱۳
۸۴	حضرت شیخ محمد مومن	۱۱۸۲ سنہ ھ	۷۲۳

نمبر شمار	عنوان	زمانہ	صفحہ
۸۵	حضرت میاں محمد عمر چمکنی	سنہ ۱۱۹۰ھ	۷۲۵
۸۶	حضرت شیخ اخوند محمد نقشبندی	سنہ ۱۱۹۱ھ	۷۴۸
۸۷	حضرت اخوند محمد صدیق پہلوارکئی	سنہ ۱۱۹۵ھ	۷۵۳
۸۸	حضرت حافظ محمد صدیق بشوانیؒ	سنہ ۱۱۹۸ھ	۷۵۴
۸۹	اخوند حافظ محمد، عمر زائے	سنہ ۱۲۰۶ھ	۷۵۷
۹۰	حضرت صوفی سید محمد اللہ (شوا پاتان)	سنہ ۱۲۱۲ھ	۷۵۹
۹۱	اخوند سید شیر محمد فاروقی	سنہ ۱۲۱۴ھ	۷۶۱
۹۲	حضرت حافظ عبد المقتدر، الپوری	سنہ ۱۲۱۵ھ	۷۶۹
۹۳	حضرت محمدی صاحبزادہ، چمکنی	سنہ ۱۲۲۰ھ	۷۷۴
۹۴	حضرت فضل احمد، معصومی	سنہ ۱۲۳۲ھ	۷۸۰
۹۵	حضرت عبید اللہ میاں گل چمکنی	سنہ ۱۲۳۳ھ	۷۹۳
۹۶	اخند زادہ فیض اللہ	سنہ ۱۲۳۴ھ	۷۹۵
۹۷	بابا فیض اللہ تیراہی	سنہ ۱۲۳۵ھ	۷۹۶
۹۸	حضرت سید عبد الحکیم بخاری	سنہ ۱۲۳۶ھ	۸۰۲
۹۹	حضرت سچل سرمست (سندھی)	سنہ ۱۲۴۲ھ	۸۰۵
۱۰۰	حضرت سید احمد شہید بریلوی	سنہ ۱۲۴۶ھ	۸۱۳
۱۰۱	حضرت شاہ سلیمان تونسوی	سنہ ۱۲۶۷ھ	۸۴۳
۱۰۲	حضرت نور محمد تیراہی	سنہ ۱۲۶۸ھ	۸۴۹
۱۰۳	حضرت میاں مستجاب (قبائلی علاقہ مہمند)	سنہ ۱۲۷۵ھ	۸۵۳
۱۰۴	حضرت سید محمد امیر کوٹی	سنہ ۱۲۹۴ھ	۸۵۸
۱۰۵	حضرت شیخ عبد الغفور دسوات	سنہ ۱۲۹۵ھ	۸۹۶
۱۰۶	حضرت شاؤ بابا صاحب دیر	سنہ ۱۳۱۲ھ	۹۱۹

نمبر شمار	عنوان	زمانہ	صفحہ
۱۰۷	حضرت مولانا نجم الدین قندھاری	سنہ ۱۳۱۹ھ	۹۲۴
۱۰۸	حضرت میاں فقیر اللہ جلال آبادی	———	۹۲۷
۱۰۹	حضرت مولانا عبد الوہاب دمانکی	سنہ ۱۳۲۲ھ	۹۳۱
۱۱۰	حضرت مولانا محمد اسرائیل شہید	سنہ ۱۳۲۴ھ	۹۴۰
۱۱۱	حضرت خواجہ سید مہر علی شاہ گیلانی	سنہ ۱۳۵۶ھ	۹۵۱
۱۱۲	حضرت پیر فضل واحد حاجی صاحب ترنگزئی	سنہ ۱۳۵۷ھ	۹۵۸
۱۱۳	حضرت سید میر آغا جان گیلانی	سنہ ۱۳۶۹ھ	۹۸۰
۱۱۴	حضرت سید بادشاہ جان	سنہ ۱۳۷۲ھ	۹۹۱

حضرت سید جلال بخاری گنج علم شہید علیہ الرحمۃ

سن ۳۸۶ھ

حضرت سیّد السادات شیخ المشائخ محمد جلال الدین جعفر بخاری گنج علم شہید پہ دیار لسمہ پیری کښی د حضرت سیّد الشہداء امام حسین رضی نمسے دے شجرہ د نسب یې داسے دہ۔

سیّد جلال الدین جعفر بخاری گنج علم۔ حوی د سیّد امیر علی۔ حوی د سیّد محمود مکی۔ حوی د سیّد محمد مھدی۔ حوی د سیّد حسن عسکری حوی د سید امام علی نقی حوی د سید امام محمد تقی حوی د سید امام علی رضا حوی د سید امام موسیٰ کاظم حوی د سید امام جعفر صادق حوی د سید امام محمد باقر حوی د سید امام علی زین العابدین حوی د حضرت سیّد الشہداء امام حسین علیہم السلام رضی اللہ عنہم اجمعین۔

د حضرت سیّد جلال بخاری گنج علم شہید مزار مبارک د ملاکنډ ایجنسئ په ریاست دیر کښ په تالاش نومے علاقه کښی دے۔ اوپه کوم کلی کښ چه د دوئ مزار مبارک واقع دے۔ هغه ته هم د دوئ د مزار مبارک په مناسبت سره "زیارت کلے" وائی۔ د ملاکنډ نه چه چترال ته کوم پوخ سړک تلے دے۔ دا کلے د دغه پوخ سړک په غاړه باندے دے۔ او د ملاکنډ نه د دوه ویشت او چکدړه نه د دیارلس میلونو په فاصله باندے شمال طرف ته واقع دے۔

دابو ریحان البیرونی او نورو مؤرخینو د بیان مطابق په سن ۳۸۶ھ کښی چه د حضرت امیر سبکتگین او راجه جی پال ترمنځه په وادئ لمغان کښ خونړے جنګ اوشه (امیر سبکتگین غزنوی د راجه جی پال د اوړی په موسم په دارالحکومت لمغان باندے حمله اوکړه۔) او د جے پال فوځونه په ما

سرشول نو بیا ورپسے چه د دغه غازیان په هیڅ باندې راروان شول او د کفارو د دغه مات شوے لښکر ښے راپه منځه کړو۔ نو غازیانو د راجه جے پال د ژمی د موسم دارالحکومة هنډ (تحصیل صوابی) ته د ننګرهار، کنړ، باجوړ او سوات په زمکو دپرله پسے غزا کانو کولو نړ وسته خانونه را اوښکلی وو۔ او په دغه زمانه چه په دے پورته یاد شوو علاقو او ملکونو کښ د کفارو کوم حکومتونه قلعه کانے وے۔ او کوم ځے او مضبوطے آبادئ د مضبوط او مورچو په شکل کښ موجود وے نو هغه د غازیانو په لاس هسے په آسانه باندے فتح شوے نه وے۔ بلکه په قدم په قدم او توپ په توپ زمکه باندے د کفارو او مشرکانو د فوځونو او اوسنی خلقو د مسلمانانو غازیانو ترمنځه بے شمیره خونړی جنګونه شوی وو۔ په دے غزا کانو کښ چه د کنړ، باجوړ، سوات، بونیر، مردان، پلیښو رمې غرنیو اومیدانی علاقو کښ کوم مسلمانان شهیدان شوی دی۔ هغه ځان له جل اورد بحث غواړی۔ په دے تولو علاقو کښ چرته چه د کفارو پخوانئ آبادئ دی۔ او دهغے د کهنډرانو او آثارو قدیمه وګیرچاپیره د بے شمیره شهیدانو زیارتونه چه موجود دی۔ دا هم د دغه دور شهیدان دی چه اکثر په دوئ کښ د پیرلوئ لوئ عالمان، سیّدان او بزرګان دی۔ د لرے لرے هیوادونو نه د اسلامی لښکر سره دلته راغلی دی او د اسلام د سرلورئ او اشاعت د پاره ئے په دے زمکو د شهادت جام څښلے دے۔ چنانچه په دغه شهیدانو کښ یو نامور شهید حضرت سیّد السادات محمد جلال الدین جعفر بخاری گنج علم دے چه د تالاش په علاقه کښ په جهاد کښ شهید شوے وو۔ او نن هم د دغه "زیارت کلی" په خواوشا کښ د کفارو پخوانئ اوزړے مګر ښے آبادئ او دهغے کنډرونه او آثار قدیمه موجود دی۔ په دے سلسله کښ د حضرت اخونه رویزه بابا روایت داسے دے۔ چه حضرت سیّد جلال بخاری گنج علم په دغه غزا کانو کښ د سوات په زمکه باندې شهید شوے وو۔ او زیارت ئے د وادئ سوات په "ابوها" نومے کلی کښ

جوړشوے وو۔ دازیارت سنه ۳۸۶ هـ نه تر سنه ۸۲۷ هـ پورے هم په دے حاے
باندے وو۔ هرکله چه په سنه ۸۲۷ هـ کښ د یوسفزو قبیلے خلق د سوات نه
تر اشریک ستول۔ اوبیا روستو د یوسفزی قام د ملی زی نومے قبیلے خلق
سوات څنے اوچت شول۔ اود موجوده ریاست دیر په تالاش نومے علاقے
باندے آباد شول۔ نو دے ملی زی قبیلے یو څوک سا نو د شپے په پته د حضرت سید
جلال بخاریؒ تابوت د ابوهانومے کلی د دغه پخوانی قبرنه اوکښلو۔ اود تالاش
په موجوده زیارت نومے کلی کښ ځے خښ کړلو۔ او په دغه وجه په زیارت
او بوهاد وارو کلی کښ د سیّد جلال بخاریؒ په نوم د دوئ زیارتونه موجود دی
لیکن څرنګه چه موبږه روستو د حضرت سیّد حسین جلال بخاری
مخدوم جهانیان جهان ګشت (متوفی سنه ۷۸۵ هـ) په تذکره کښ واضحه کړے ده۔
په موضع ابوهاکښ چه د سیّد جلال بخاری په نوم کوم مزار دے۔ دغه په حقیقت
کښ د دے مخدوم جهانیان جهان ګشت د ګدئ ځاے او خلوتخانه وه چه ټوله وسلو
ترینه خلقو مزار جوړ کړے دے۔ او د تالاش په علاقه کښ چه کوم مزار دے
هغه د دے سیّد محمّد جلال الدین بخاری ګنج علم شهید مزار دے۔ د حضرت
سیّد جلال بخاری ګنج علم شهید تذکره په دوه وجهو سره د دے خپل کتاب په اول
سرکښ راوړلے۔

الف | یوه وجه داده چه د مغربی پاکستان په دے شمالمغربی حصه کښ چه
د حضرت رسول مقبول محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په اولاد کښ کومو
نامورو سیّدانو د اسلام د سر لوړی د پاره جهادونه او غزاګانے کړے دی۔ د هغوئ
په مبارکو قدمونو خپل ټبر د املک بختور شوے دے۔ او په آخره ځے د شهادت جام
څښلے دے۔ اود دوئ د پاکو وینو په قربانئ خپل ټبر په دے ملک کښے د اسلام
باغ بنیراز ه شوے دے۔ په دغه سیدانو کښ د زمانے په لحاظ چه د ګڼو په
د ټولو نه پخوانی آل رسولؐ حالات په صحیح تاریخی ډول سره موبږه ته معلوم

دی۔ هغه حضرت جلال الدین بخاری ګنج علم شهید علیه الرحمة و
الرضوان دے۔

ب | بله وجه داده چه د دوئ په اولاد کښ د دے نور د اسے کسان تیر
شوی دی۔ چه هغوئ د ګنج علم شهید خصوصی تعریفونه ژوندی
ساتلی دی۔ او خپل ټبر ه د مغربی پاکستان خاوره ځے په هغې بختوره کړے۔
حضرت سیّد جلال بخاریؒ عالم وو۔ اود عالم کار خلقو ته رشد او هدایت
کول وی۔ حضرتؒ ګنج علم شهید مجاهد وو۔ اود مجاهد او غازی کار بچنیلو
پاکو وینو د اسلام د نهالګی او باغ آبیاری کول وی۔ اود دوارې فرائض
دوئ دغه درے وارې نمسو په سنه شان سره سر ته رسولی دی۔ پدے
وجه په موبږه ټولو د دوئ ډیر لوئ حق او احسان دے۔ چه الله
پاک دے د هغې په بدله کښ د دوئ په ګور باندې د انوارو باران اوکړي۔

حضرت جلال الدین

ابو البرکات حسن میرسرخ بخاری

ولادت ـــــــــ په بخارا کښ سنه ۵۹۵ھ

وفات ـــــــــ په بهاولپور کښ سنه ۶۹۰ھ

د حضرت شیخ المشایخ ابو البرکات جلال الدین الملقب په جلال اعظم میرسرخ بخاری خپل اصلی او محضه نوم حسن دے "ال الدین" ئے خاندانی لقب دے۔ او "جلال اعظم" او "میرسرخ" ئے ذاتی القاب دی۔ او چونکه په بخارا کښ پیدا شوے وو۔ پدے وجه د دوی د نوم سره لفظ د "بخاری" لیکلے شی د نسب سلسله ئے حضرت امام علی نقی رضی الله عنه ته رسیږی۔ شجره ئے داسے ده۔

ابو البرکات سید جلال الدین حسن[1] المعروف په میرسرخ بخاری، ابن سید علی ابو المؤید[2]، ابن سید ابو علی جعفر[3]۔ ابن سید ابو الفتح صفی الدین محمد[4]۔ ابن سید ابو محمد ناصر الدین محمود اصغر[5]۔ ابن سید ابی یوسف وابو محمود شیخ المشایخ احمد[6] قتال۔ ابن سید ابو احمد شهاب الدین عبد[7] الله۔ ابن سید ابی عبد الله علی اصغر الملقب[8] په اشتر۔ ابن سید ابو علی، جعفر المرتضیٰ الملقب په خلیل الله ثانی او جعفر ثانی[9] ابن الامام ابو الحسن ثالث محمد علی نقی رضی الله عنهم اجمعین۔

ضروری وضاحت

په دے پورتنی شجره کښ چه هر څومره نومونه ذکر شول د دے هر یو نوم په حقله په اختصار سره څنے ضروری وضاحتونه دلته سلسله وار درج کولے شی د پاره د دے چه په مختلفو تذکرو او شجرو نسبونو کښ چه کوم فرق موجود دے هغه اشتباهات دی هغه رفع شی او فائده ئے عامه شی۔

[1] د پدے نوم سره د بخاری ساداتو په شجره کښ او نور و عاموتذکرو کښ دا نوم فقط "جلال الدین میرسرخ بخاری" لیکلے شوے دے۔ حالانکه دغه د دوی القاب دی۔ اصلی نوم ئے نه دے۔ د باجور څخه بخاری ساداتو په شجره کښ د دوی اصلی او محضه نوم "حسن" درج دے۔ او د سید الفخار علی شاه نقوی بخاری مرحوم په تالیف "تحفة السادات" کښ او د اوچ بهاولپور څخه مشهور تذکره لیکونکی خواجه فیض محمد مرحوم په شجره کښ د دوی نوم دا سے لیکلے شوے دے "مخدوم سید جلال الدین حیدر سرخ پوش بخاری" (په حواله د مکتوب د سید غلام شبیر بخاری د لاهور پنجاب) او د سید غلام حسن کاظمی د مظفر آباد آزاد کشمیر په یو مکتوب کښ د دوی نوم "حسین" درج دے۔ لیکن څو بزرګ د تحقیق مطابق د باجور د بخاری ساداتو د شجرے روایت زیات صحیح دے۔ حکه موږ په هم دلته د دوی نوم حسن درج کړلو۔

[2] دے د شجرے دویم نوم دے "علی ابو المؤید" د قبایلی علاقے باجور د بخاری ساداتو په شجره کښ دا نوم "سید ولی محمد" درج دے۔ او د اوچ شریف بهاولپور په شجره کښ دا نوم "سید محمود اصغر" درج دے۔ لیکن د پیښور څخه د بخاری ساداتو د شجرے او د سید غلام حسن کاظمی د مکتوب مطابق موږ په دا نوم "سید علی ابو المؤید" درج کړلو چه دا زیات صحیح روایت دے۔ مزار مبارک ئے په بخارا کښ دے۔ او په سنه ۵۷۵ھ کښ وفات شوے دے۔

[3] دے د شجرے دریم نوم دے "سید ابو علی جعفر" د اوچ د ساداتو په شجره کښ دا نوم دا سے درج دے "سید جعفر" او د باجور د ساداتو په شجره کښ هم دا نوم سید جعفر درج دے۔ لیکن د کوجر وکړهئ د بخاری ساداتو شجرے مطابق د دوی پوره نوم سید ابو علی جعفر دے۔ مزار مبارک ئے په بخارا کښ دے۔ او په سنه ۵۷۵ھ کښ وفات شوے دے۔

[4] دے د شجرے څلورم نوم "سید ابو الفتح صفی الدین محمد" دے۔ د باجور

پیښور ښهر کوجر ډکر هیڅ. بهاولپور په تونسو شجرو کښې د دوی نوم "سیّد محمد" درج دے. لیکن د دوی پوره نوم سید ابوالفتح صفی الدین محمد دے. مزار مبارک یې په بخارا کښې دے. او په ۵۱۹ھ کښې وفات شوے دے.

۵ دے شجرے پنځم نوم "محمود" دے. د قباټلی علاقے باجوړ د بخاری ساداتو په شجرو کښې دا نوم "سید ولی محمد" درج دے. او د اوچ شریف بهاولپور په شجرو کښې دا نوم سیّد محمود اصغر درج دے. د ضلع مردان ډکوجر ډکړهیڅ د بخاری ساداتو په شجرو کښې دا نوم صرف "سید محمود بخاری" درج دے. چنانچه په دے سلسله کښې د باجوړ د شجرے روایت صحیح نه دے. او د دوی پوره نوم "ابی محمد ناصرالدین محمود اصغر" دے. اصغر ورته په دے بناء وئیلے شی. چه د دوی دوه ورونړه وُو. د یو نوم علی وو چه هغه په "سید علی اکبر" نامه یاد یدلو. او د دے نوم محمود وو. چونکه دے کشتر وو. پدغه مناسبت سره په محمود اصغر نامه یاد یدلو. د دوی کنیت ابومحمد دے. اولقب یې ناصرالدین دے. په سنه ۳۷۰ھ کښې پیدا شوے دے. او په سنه ۴۶۷ھ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یې په بخارا کښې دے. د والدے ماجدے د طرفه شجرو د نسب یې راسے دے. سید محمود اصغر بن زینب بنت سید مرتضیٰ بن سیّد محمد بن سید مظهر بن سید ابوالفضل محمد.

۶ دے شجرے شپږم نوم سید ابویوسف وابومحمود شیخ المشائخ امجد قتال دے. د دوی اصلی نوم احمد دے. کنیت یې ابویوسف او ابومحمود دے. اوقتال یې لقب دے. د باجوړ او ګوجر ډکړهیڅ په شجرو کښې دا نوم "سید احمد کبیر" درج دے. او د اوچ په شجرو کښې دا نوم ابویوسف احمد درج دے. لیکن پوره نوم یې په دے کوم چه مونږ پورته اولیکلو. د والدے ماجدے نوم یې سکینه بنت سید محمد بن سید مظهر بن سید ابوالفضل محمد دے. حضرت شیخ احمد قتال په سنه ۳۴۰ھ کښې پیدا شوے. او په سنه ۴۱۲ھ کښې وفات شو

وفات شوے دے. مزار مبارک یې په بخارا کښې دے.

۷ دے شجرے اوم نوم "سید ابواحمد شهاب الدین عبدالله" دے. د پیښور ښهر د بخاری ساداتو په شجرو کښې دا نوم اسے درج دے. "سید عبدالله جعفر" د باجوړ په شجرو کښې دا نوم اسے درج دے. "سید عبدالله جعفر ثانی" د غه شان د اوچ شریف او ګوجر ډکړهیڅ په شجرو کښې دا نوم اسے درج دے. "سید عبدالله" په دے سلسله کښې د پیښور او باجوړ والا روایت صحیح نه دے. ځکه چه جعفر په حقیقت کښې د سید عبدالله د نیکه نوم دے. بلکه څرنګه چه مونږ پورته تصریح اوکړه د دوی اصلی محضه نوم عبدالله دے. اسم کنیه یې ابواحمد دے. اولقب یې شهاب الدین دے. د والدے ماجدے نوم یې خدیجه بنت سیّد مظهر بن سید ابوالفضل محمد شریف فاضل دے. په سنه ۳۲۹ھ کښې پیدا شوے دے. او په سنه ۳۵۲ھ کښې وفات شوے دے. مزار مبارک یې د عراق په سامره نومے ښهر کښې د خپل نیکه د مزار مبارک خواته دے. د دوی دوه څامن وو.

(۱) سید محمد نازوک علیه الرحمة چه د دے اولاد په بنی نازوک نامه یادیږی. د دے پنځه څامن وو. سیّد عیسیٰ. سید ابوالغنائم عبدالله سید محمد. سید علی. سیّد یحییٰ.

(۲) او د دویم څوی یې سید ابویوسف احمد قتال نوم وو چه مخکښې یې ذکر اوشو. د دے نه دا معلومه شوه چه بخارا ته هم دغه حضرت سید ابویوسف احمد قتال راغلے وو.

۸ دے شجرے اتم نوم دے. "سید ابوعبدالله علی اصغر الملقب په اشتر". د ګوجر ډکړهیڅ د بخاری ساداتو په شجرو کښې دا نوم "علی اشکر" درج دے. او د اوچ په شجرو کښې "علی اصغر" درج دے. په دے دواړو بیانونو

کښ چه کوم فرق دے. ډیغې وضاحت دا سے دے. چه ډ دوئ خپل نوم "علی" دے. اصغریٔ تعریف دے. "ابوعبدالله" یٔ کښیت دے. او "اشتر" یٔ لقب دے. ډ والد ے ماجدے نوم یٔ دے. زینب بنت سید ابوالفضل محمد شریف فاضل بن سید ابوالقاسم علی نقیب قم (ایران) بن سید محمد بن سید حمزه مشهود بن سید احمد السرخ بن سید محمد بن سید اسماعیل ابن سید محمد الارقط بن سید عبدالله باهر بن امام زین العابدین علی بن سید امام حسین رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین. حضرت سید علی اشتر په ۲۵۷ھ کښ پیدا شوے دے. او په ۳۲۱ھ کښ وفات شوے دے. مزار مبارک یٔ په سامره (عراق) کښ ډ خپل پدر بزرگوار خواته دے. ډ دے خاورو خامن وو. محمد. جعفر. اسماعیل. عبدالله. پردوئ کښ حضرت سید اسماعیل ډ وادئ سندھ ډ بهکر نوے بنهر ډ سادات نیکه دے. او هر کله چه حضرت میر سرخ بخاری علیه الرحمة بهکر ته تشریف راوړلو. او هم دے سادات په کورنئ کښے یٔ واده کړے وو.

۹ دے شجرے نهم نوم "سید جعفر" دے. ډ باجوړ پیښور او کوجګړهٔ ډ بخاری سادات په شجرو کښے دا نوم دا سے درج دے. "سید جعفر ثانی" او ډ اوچ شریف بهاولپور په شجره کښ دا نوم دا سے درج دے. "سید جعفر ثانی توأب. زکی". ډ دوئ اصلی نوم جعفر دے. ابوعلی یٔ کښیت دے. جعفر ثانی. جعفر المرتضیٰ. جعفر التوأب. جعفر زکی. خلیل الله ثانی یٔ القاب دی. رضی الله

(فائده) ډ ملتان او پیښور د وارو په شجرو کښ ډ جعفر ثانی او علی نقی نه منځه ډ امام حسن عسکری نوم نشته دے. فقط ډ باجوړ ډ شجرے دا روایت غلط دے. په دے سلسله کښ ډ کوجګړهٔ په شجره کښ چه کوم وضاحت دے هغه دا مسئله صفا کوی. او هغه دا دے چه ډ حضرت امام علی نقی

درے څامن وو. (۱) امام حسن عسکری. حسین. جعفر ثانی چه په دوئ کښ دغه درےم کشر څوئ سید جعفر ثانی ډ حضرت میر سرخ بخاری علیه الرحمة نیکه دے. رحمة الله علیهم اجمعین.

حضرت ابوالبرکات سید جلال الدین حسن میر سرخ بخاری علیه الرحمة په ۵۹۵ھ کښ په بخارا کښ پیدا شوے وو. بیا ډ بخارا نه یٔ ډ خلو یښتو کالو په عمر کښ په ۶۳۵ھ کښ ډ وادئ سندھ بهکر نوے بنهر ته تشریف راوړلو. او هم دلته یٔ استوګنه اختیار کړله. څه موده پس دغه ځائ نه ملتان ته راغے. او ډ حضرت شیخ الشیوخ حضرت بهاء الدین ذکریا نه یٔ په سلسله عالیه سهروردیه کښ لاس نیوے وکړه. لکه چه وړاندے ذکر شوے دے. حضرت ابومحمد شیخ بهاء الدین ذکریا ډ حضرت شیخ شهاب الدین عمر سهروردی علیه الرحمة ممتاز خلیفه وو.

حضرت سید جلال الدین میر سرخ بخاری ته خپل مرشد کامل ډ خلافت خرقه ورکړے وه. دے ډ ظاهری او باطنی دواړو علمونو پیر لوئ فاضل عالم او ډ ډیرے اوچتے روحانی مرتبے او کمالاتو خاوند وو. او ډ خپل وخت په جلیل القدر بزرګانو کښ ډ دوئ ډ علمی او روحانی مرتبے اوچتوالے هغلے شوے وو.

ډ بهکر ډ استوګنے په زمانه کښ یٔ په ۶۵۴ھ کښ ډ دغه بنهر ډ یو مشهور بزرګ حضرت سید بدرالدین علیه الرحمة ډ کشری لور بی بی سره نکاح اوشوه. حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوی په خپل کتاب اخبار الاخیار کښ لیکی: چه حضرت میر سرخ بخاری ته دے نکاح زیرے ډ حضرت رسول مقبول صلعم ډ طرف نه ورکړے شوے وو.

ډ واده کولو نه څه ښیټه روستو دوئ بهکر نه په کډه باندے پر ۶۵۷ھ کښ ډ بهاولپور اوچ نوے ځائ ته راغلل. او دلته یٔ استوګنه

اختیار کړے وی۔ په اوچ شریف کښې چه دوئ په کومه محله کښې استوګنه اختیار کړے وه۔ هغه ترڼې وړځې په محله بخاریان سره مشهوره ده۔

دلته د اخبره هم یادلرل پکار دی۔ چه د بهاولپور دغه اوچ نوے مقام پیر بختوریځای دے۔ دلته د سیدانو دوه کورنۍ اوسیږی۔

(الف) یوه د بخاری سادات کورنۍ ده۔ چه مورث اعلیٰ ئے هم دغه حضرت میر سُرخ بخاری دے۔

(ب) دویمه د ګیلانی سادات کورنۍ ده۔ چه په خصوصیت سره د حضرت غوث الاعظم میران محی الدین عبدالقادر جیلانی رضی الله عنه د مشری څوئ حضرت سید الوهاب علیه الرحمة د نسل څخه دی۔ اود دے په مناسبت د څپل نوم سره سید ګیلانی عبدالوهابی لیکی۔ په دے خاندان کښې هم اډیر لوئ لوی بزرګان تیر شوی دی۔ علیهم الرحمة۔

د حضرت میر سرخ بخاری علیه الرحمة د څامنو په شمیره او تعداد کښې اختلاف دے۔ چه دلته ورته اشاره کوُل مناسب ګڼړو۔

(الف) د مفتی غلام سرور لاهوری په تالیف "تاریخ مخزن پنجاب (۱۲۹۲ھ) کښې لیکلی دی۔ چه د دوئ دے څامن وو۔ سید محمد کبیر۔ سید احمد کبیر۔ سید بهاء الدین۔

(ب) شیخ عبدالحق محدّث دهلوی پخپل کتاب "اخبار الاخیار" کښې د دوئ دوه څامن یادکړی دی۔ (۱) محمد۔ (۲) احمد۔

(ج) د پیښور ښهر د بخاری سادات په شجره کښې د دوئ د څلور و څامنو نومونه درج دی۔ (۱) محمد غوث (۲) احمد کبیر (۳) معصوم علی (۴) جعفر۔

(د) د اوچ شریف د بخاری سادات په شجره او د مخدوم سید غلام شیر بخاری د تره سید افتخار علی شاه نقوی بخاری مرحوم په تالیف "تحفة السادات" کښې د دوئ د پنځو څامنو نومونه درج کړی دی۔ (۱) سید علی۔

(۲) سید جعفر (۳) سید محمد غوث (۴) سلطان سید احمد کبیر (۵) سید معصوم۔

د دے پورتنیو روایتونو په اختلاف چرفکر او کړو۔ نو دے پوځ ته نتیجه رسیږو۔ (۱) چه د تاریخ مخزن پنجاب په روایت کښې چه د درېم څوئ نوم سید بهاء الدین یاد شوے دے۔ نو دغه ئے د درېم څوئ نوم نه دے۔ بلکه د سید احمد کبیر لقب دے۔ ځکه چه د سید محمد کبیر د نوم سره په طور د لقب باندے شیخ صدرالدین ذکر شوے دے۔ هم دغه شان د سید احمد کبیر د نوم سره کلمه د بهاء الدین په طور لقب استعمال شویده۔

(۲) بله خبره دا ده چه په کتاب اخبار الاخیار کښې ذکر شوے نوم "محمد" او په تاریخ مخزن پنجاب کښې ذکر شوے نوم "محمد کبیر" او د پیښور۔ اوچ بهاولپور او د باجور د بخاری سادات و د شجرو نوم "محمد غوث" دا درے واړه پاڼه حقیقت کښې د سرې نوم دے۔ وضاحت ئے داسے دے۔ چه د دغه اصلی نوم "محمد" دے۔ او غوث۔ کبیر۔ صدرالدین ئے تعریفی القاب دی۔

(۳) بله داچه په اخبار الاخیار او تاریخ مخزن پنجاب کښې د حضرت سید جلال الدین میر سُرخ بخاری قطعه د دوه مشرانو څامنو نومونه یاد شوی دی۔ او د پیښور۔ اوچ۔ باجور د بخاری سادات و شجرے چونکه خاندانی یادداشتونه دی۔ په دے وجه په دے کښې د دغه دواړو څامنو نومونه راغلی دی۔

(۴) بله خبره چه څومره د پاره د غور او بحث قابله ده۔ هغه د دغه فرق په هغه د چه د حضرت میر سُرخ د څامنو د نومونو په ترتیب کښې په مختلفو تاریخی کتابونو او تذکرو کښې په نظر راځی۔ په اختصار سره وضاحت کول ئے ضروری ګڼړو۔

د پیښور په شجره کښې د دوئ د څامنو نومونه په دے ترتیب لیکلی شوی دی۔ محمد۔ احمد۔ معصوم علی۔ جعفر۔ او د اوچ بهاولپور په شجره کښې د پیښور د شجرے په برعکس دوه قسمه فرق موجود دے۔ یو د نومونو په ترتیب کښې فرق دے۔ چه هغه داسے دے۔ علی۔ جعفر۔ محمد۔ احمد۔ معصوم۔ دویم داچه پدے کښې

د پیښور د شجرے یو نوم "معصوم علی" دوه ټولې شوے دے۔ یوه ټوله علی بله معصوم۔ په دوئ کښې علی د ټولونه د مشرۍ او پرونبنۍ خوئ نوم ښودلے شوے دے۔ او معصوم د ټولونه د کشرۍ پنځم خوئ نوم ښودلے شوے دے۔ د اوچ د شجرې نسب دے بیان چه روستو کوم تاریخی مشکلات پیدا کړی دی۔ د هغے په اکثر تذکره لیکونکی او مؤرخان په اضطراب کښې پریوتلی دی۔ د مثال په طور د اوچ د شجرې نسب چه مفتی غلام سرور لاهوری (سنه ۱۸۴۲ء) په لاس ورغلے نو دے په بناء هغه پخپل کتاب خزینة الاصفیاء جلد ۲ صفحه ۲۸ کښې لیکلی دی۔ چه د حضرت میر سرخ بخاری دوه حامن علی او جعفر د سرلا د بخارا نه راغلی وو۔ او څه زمانه په هند (پاکستان) کښې د اوسیدلو نه روستو واپس بخارا ته لاړل۔ بیا ورپسے هم دے خزینة الاصفیاء په جلد ۲ صفحه ۳۸ کښې او په سیر العارفین (صفحه ۱۵۵) او تاریخ فرشته (صفحه ۱۸۲) کښې چه حضرت میر سرخ بخاری خپل بدرالدین بهکری یوه لور په نکاح کړے وه۔ او چه هغه وفات شوه نو بیائے د هغوئ بلاه لور په نکاح کړه۔ او د دے بیبیانو نه ټے پرله پسے درے حامن اوشول۔ د اولنۍ بی بی نه بهاء الدین او محمد غوث او د دوئے نه احمد کبیر۔

په دے پورته بیانونو کښې په خصوصیت سره د مفتی غلام سرور د بیانونو کښې چه کوم فرق دے هغه پیر بخیبه دے۔ څکه چه یو خواته دے پخپل کتاب مخزن پنجاب کښې د حضرت میر سرخ بخاری د حامنو نومونه په دے ترتیب سره لیکی۔ محمد۔ احمد۔ بهاء الدین او بل خواته په خزینة الاصفیاء کښې هم دغه نومونه په دے ترتیب سره لیکی۔ بهاء الدین۔ محمد۔ احمد لیکی خرنګ چه مونږ کوړاندے د حضرت داتا گنج بخش په تذکره کښې تصریح کړے ده۔ چه د زمانے په لحاظ سره خزینة الاصفیاء د مفتی غلام سرور اولنے د سنه ۱۲۸۲ د زمانے تالیف دے۔ او مخزن پنجاب ټے د سنه ۱۲۹۲ ه د زمانے روستنے تالیف دے۔ په دے وجه د حضرت میر سرخ بخاری د حامنو هغه ترتیب

او صحیح هم دے کوم په مخزن پنجاب کښې ټے محمد۔ احمد۔ بهاء الدین درج کړے دے۔ څکه چه د اترتیب د حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوی د کتاب اخبار الاخیار د بیان کړی ترتیب مطابق دے۔ اولکه چه په پورته په نزدے کړښو کښې مونږ واضحه کړے ده۔

بهاء الدین د حضرت میر سرخ بخاری د دریم خوئ نوم نه دے۔ بلکه د حضرت احمد کبیر لقب دے۔

دے پورتنو بیانونو نو چه کوم تاریخی مشکلات پیدا کړی دی۔ هغه دادی۔ چه کله مونږ په دے روایتونو اعتماد اوکړو۔ نو دے مطلب به داشی چه د خزینة الاصفیاء د پورتنی روایت مطابق د نتیجه به اخیستل غواړی چه حضرت میر سرخ بخاری درے ودونه کړی وو۔ یوئے په بخارا کښې کړے وو۔ چه د هغے نه ټے علی او جعفر د وه حامن پیدا شوی وو۔ هغه و رسره د بخارا نه بهکر ته راغلے وو۔ او دلته د څو ورځو قیام نه پس بیرته بخارا ته تلی وو۔ (حالانکه نواب صدیق حسن خان پخپل کتاب الفرع الناعی صفحه ۲۰ کښې لیکی چه د حضرت میر سرخ بخاری یوځوئ چه د هغه علی نوم وو۔ هغه و رسره په سنه ۷۰۰ کښې راسیدلے۔) او بیا د دغه نه روستو حضرت میر سرخ بخاری حضرت بدرالدین بهکری د دوه لونړو سړو پرله پسے ودونه کړی وو چه د هغے نه ټے درے حامن پیدا شوی وو۔

لیکن حقیقت د دغه شان نه څرنګ چه بیان شوے دے۔ په دے کښې یو خواته په اصلی واقعاتو کښې خلط ملط راغلے دے۔ او بل خواته بعض حقائق نظر انداز شوی دی۔ خبره داده چه:-

(الف) په دے سلسله کښې د پیښور د بخاری ساداتو د شجرې نسب بیان صحیح دے۔ چه د حضرت میر سرخ بخاری د مشر اولاد حامنو نومونه علی الترتیب محمد او احمد دی۔ دے تائید د اخبار الاخیار نه د باجور د بخاری ساداتو

اودکوجرکړهئی د بخاری ساداتو د شجرې نسبونو نه کیږی. دغه دواړه مشران څامن محمد او احمد دی د سید تایید د اخبار الاخیار نه د باجوړ بخاری ساداتو اودکوجرکړهئی د بخاری ساداتو د شجرې نسبونو نه کیږی. دغه دواړه مشران څامن محمد او احمد دیئ د حضرت سید بدرالدین بکرکی مشر لور بی بی نه یعنی د میر سرخ د اولنی ټبر نه پیدا شوی وو. او معصوم علی او جعفر ئی علی الترتیب درېم او څلورم کشران څامن وو. او د حضرت بدرالدین د دوئیمې لور یاد میر سرخ د دوئیم ټبر نه پیدا شوی دی. حضرت سید جلال الدین میر سرخ بخاری په ۶۳۵ هـ کښ بهکر ته راغلی وو. د اولنی واده نیټه ئی هم دغه ۶۳۵ هـ متعین کوو له شوچه دغه وخت د دوئی عمر څلویښت کاله وو. بیاچه دا ټبر ئی وفات شو. نو د حضرت سید بدرالدین د دوئیمې لور بی بی سره ئی په ۶۵۴ هـ کښ نکاح کړې وه. او بیا هم دده بی بی نه ئی دوه څامن معصوم علی او جعفر پیدا شوی وو.

په اصل کښ په بخارا کښ د حضرت میر سرخ بخاری د اولادکو اوبیا ورسره د دغه څای نه د دوه څامنو علی او جعفر د راتللو سوال څکه نه پیدا کیږی. چه د اخبار الاخیار روایت بالکل صاف دے. چه د بهکر د سید بدرالدین د لور بی بی سره د واده کولو زیرے ورته حضرت نبی کریم علیه التحیة والتسلیم ورکړے وو. او د بخارا نه بهکر ته د دوئی د راتللو اصلی باعث هم په حقیقت کښ دغه وو.

حضرت سید محمد غوث کبیر بخاری

د حضرت سید جلال الدین حسن المعروف په میر سرخ بخاری د مشر څوئی حضرت سیّد صد.. الدین محمد غوث کبیر بخاری څلور څامن وو. (۱) ابوسعید (۲) ابوالغیث (۳) شمس الدین (۴) سید ابوسعید د پلورتنے روایت د کتاب "تحفة السادات" دے. د باجوړ د بخاری سادا

د شجرې کښ ددے دوئیم څوئی نوم "سید غوث" لیکلے شوے دے. چه دا روایت زیاتو صحیح معلومیږی. د پیښور ښار د کریم شاهی بخاری ساداتو کورنۍ ددے حضرت سید محمد غوث اولاد دے.

د دغے نه علاوه د قبایلی علاقے باجوړ (مالاکنډ ایجنسی پشاور ډویژن) په مختلفو حصوکښ چه بخاری ساداتو کوم خاندانونه دی. هغه هم ددے حضرت سید محمد غوث کبیر اولاد دی. د دے حضرت سید غوث کبیر د دوئیم څوئی د حضرت سید غوث علیه الرحمة په اولاد کښ بنکته په اوومه پیړی کښ یوکسے وو. چه د هغه حضرت سید ابراهیم نوم وو. هغه د ملتان نه باجوړ ته راغلے وو. او د هغه نه بیا د باجوړ د بخاری ساداتو سلسله خورا سوے ده.

(روستو به د دے سید ابراهیم تذکره راشی.)

حضرت سید احمد کبیر بخاری

د حضرت سید جلال الدین حسن میر سرخ بخاری د دوئیم څوئی حضرت سید بهاء الدین سلطان احمد کبیر بخاری د دوه څامن وو. (۱) حضرت سید جلال الدین حسین المعروف په مخدوم جهانیان جهان گشت. او دوئیم حضرت مخدوم شیخ صدرالدین محمد راجن قتال علیهم الرحمة.

د حضرت مخدوم جهانیان تذکره به روستو په تفصیل سره راشی. او د دوئی د ور حضرت مخدوم قتال نوم د پیښور ښهر په شجره کښ دلته لیکلے شوے دے. "شیرجان قتال" په کتاب رود کوثر (صفحه ۴۶ کښے دانوم "سید راجو قتال" درج دے. په تاریخ مخزن پنجاب (جلد ۲ صفحه ۳۳۲ کښ دانوم "سید راجن قتال" درج دے. او په کتاب مناقب الولایت د حامد گنج بخش (صفحه ۲ کښ هم دانوم "راجن کتال" درج دے. البته د سید غلام حسن کاظمی په قلمی یاداشتو نو کښ دانوم دا سے لیکلے دے. دیوان

سید محمد صدرالدین شاه راجو قتال" یعنی نوم یود ے. فقط د علاقی لهجو د اختلاف په وجه په تلفظ کښ یے اختلاف راغلے دے. په سنه ۸۲۷ھ کښ وفات شوے دے. اومزار مبارک یے په دهلی کښ دے. نوره تذکره یے روستو د مخدوم جهانیان د تذکرے په ضمن کښ راشی.

په بعض تذکرو کښ د حضرت سید احمد کبیر د یوبل درېم حوی سید صدرالدین ذکر هم شوے دے لیکن دغه صحیح نه دے. د پیښور د تجرو کښ داد د درېم حوی نوم نه دے. بلکه لکه چه پورته ورته اشاره اوشوه صدرالدین د حضرت سید راجن قتال لقب دے. چه په مکتوبات د سید اشرف جهانګیر سمنانی کښ د دوی د القب په دیر وضاحت سره ذکر شوے دے

(وفات)

حضرت میر سرخ بخاری علیه الرحمة په سنه ۶۹۰ھ مطابق سنه ۱۲۹۲ء کښ وفات شوے دے. مزار مبارک یے په اوچ بهاولپور کښے دے. او مرجع عوام اوخاص دے.

(خلفاء او مریدان)

د حضرت سید جلال الدین میر سرخ بخاری علیه الرحمة په مریدانو کښ حضرت سید شرف الدین شاه ولایت متوفی سنه ۷۳۹ھ مشهور بزرګ تیر شوے دے. چه د هند وستان د مشهور بنهر (امروهه) د سادات مورث اعلیٰ دے. روستو هم دے شاه ولایت په اولاد کښ په اوډیښه کښ یونسے تیر شوے دے. چه د هغه نوم وو.

حضرت سید محمد علیه الرحمة

دغه حضرت سید محمدؒ دیر لوی عالم وو. په علوم ظاهری او باطنی دواړو کښ د لوی مرتبے خاوند وو. پیره مودے یے د شهنشاه جلال الدین اکبر په دربار کښ د "میر عدل" یعنی قاضی القضاة په عهده باندے فرائض ادا کړی وو. په آخر عمر کښ د صوبه سنده

د حکومت (گورنر) امقرر کړے شو. سنه ۸ ته یے تشریف راوړلو. د مرکزی مقام سکهر کښ یے د سند هـ د حکمران په حیثیت سره خدمتونه اختیار کړه. د تاریخ معصومی د روایت مطابق حضرت سید محمد علیه الرحمة په ۱۱ تاریخ د رمضان المبارک سنه ۹۸۳ھ سنه ته راغلے وو. چه روستو هم دلته وفات شو. مزار مبارک یے په سکهر کښ دے.

علیه الرحمة والغفران.

۔ادکوم حائی نه راځی۔ په سونارکاوڑ کښ دَدوه کاله تیرولونه روستو
واپس کوټ ته یې تشریف یوړلو۔ اوبیا په آخر عمر کښ "پنلوه" ته
لاړلو۔ اوبیا په ۷۸۴ھ کښ یادَ اخبار الاخیار په روایت په
۸۰۰ھ کښ یې انتقال اوفرمایه:۔

مزار مبارک یې په "پنلوه" کښ دے۔

علیه الرحمة والغفران

حضرت مخدوم جهانیان جهان گشت

ولادت:۔ ——— اُوچ بهاولپور ۷۰۷ھ

وفات:۔ ——— " " ۷۸۵ھ

حضرت مخدوم جهانیان جهان گشت پورے نوم داسے دے۔ حضرت
سید، سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان۔ جهان گشت
بخاری علیه الرحمة دے په ۲۵ تاریخ دَشوال المکرم ۷۰۷ھ په مقام
اُوچ ریاست بهاولپور کښ دَ حضرت شیخ احمد کبیر ابن سید جلال
الدین حسن الملقب په میر سرخ بخاری علیه الرحمة په کور کښ پیدا
شوے دے۔ دَورکوټی والی نه دَبزرګی اوکرامت نخښے اوعلامے دَدوئ
په ټنډی کښ ځلیدلے۔ چه هر کله دَاوه کالو په عمر شو۔ نو خپل والد
ماجد روان کړ حضرت شیخ جمال خندان روله یې بوتلو چه دَعلم دین
درس تربیه حاصل کړی۔ دلته دَ ابتدائی کتابونو لوستلو نه روسته ملتان
تشریف راوړه۔ اوپه هغه وخت چه په ملتان کښ کوم مشاهیر عالمان وو۔ دَ
هغوئ نه اودَ حضرت شیخ رکن الدین رکن عالم نه یې دَعلوم ظاهری تکمیل
وکړلو۔ اوبیا یې دَخپل والد ماجد نه اودَ خپل ترره حضرت شیخ صدر
الدین محمد غوث کبیر نه په سلسله سهروردیه کښ بیعت کړے وو۔ او
اوږدے روستو یې دَ حضرت شیخ رکن الدین نه خرقه دَ خلافت حاصله
کړے وه۔ ددوئ دَنوم سره "مخدوم جهانیان جهان گشت" دوه لقبونه
سره لګیدلی شی۔ په دے کښ مخدوم جهانیان لقب ورله خپل پیر رکن
الدین ملتانی ورکړے دے۔ او دویم لقب "جهان گشت" دَدوئ دَنوم سره
د خصلت مناسبت لګیدلی شی۔ چه دکتاب اخبار الاخیار دَ روایت مطابق دَ نوی
سیاسفرونو او سیاحت یې کړے دے۔ اودَ بے شمیره اولیاءُ نه یې نعمت او

اوبرکت مونه لے دے ۔

په تاریخ فرشته جلد ۱ صفحه ۴۱۵ کښ د حضرت مخدوم جهانیانؒ
د پیر طریقت شیخ ابوالفتح رکن الدین نه دا روایت نقل شوے دے "چه څه
وخت سید جلال الدین بخاری خُما سره د علوم ظاهری د تعلیم نه فارغ
شو. او په علوم طریقت کښ یے هم ابته الئ دسترس حاصل کړو. نو د دنیا
په سیاحت روان شو. د تاریخ فرشته یو بیان دا هم دے چه حضرت مخدوم
دوه ځله د ټولے دنیا سیاحت کړے دے او په ۷۴۲ھ کښ واپس راغلے او
په اوچ کښ مقیم شوے وو ۔

هر کله چه د حضرت مخدوم د سیاحت په حقله د مختلفو تذکرو
بیانونو کښ د پیر زیات اضطراب دے. او په عام نظر دا ترینه نه معلومیږی
چه دوئ څو ځله په سفر تلی وو. او په کومه زمانه کښ تلی وو. په کومه
زمانه په سفر کښ وو. په کومه زمانه په ملتان کښ وو. په دے وجه
په اختصار سره څه لږ د پیر بحث پرے دلته کوڅلے شی ۔

د حضرت شیخ ابوالفتح رکن الدین د پورتنی بیان نه دا لاندینی
نتیجے مونږ ته په لاس راځی ۔

۱ یوه داچه حضرت شیخ رکن الدین عالم په ۷۳۵ھ کښ
وفات شوے دے. او هر کله چه مخدوم جهانیان د هغوئ
په ژوندگی کښ د دنیا په سیاحت روان شوے وو. نو مطلب یے
دا کیږی چه دے به د ۷۳۳ھ / ۱۳۳۴ء په شاوخوا کښ د هغوی نه
رخصت شوے وو ۔

۲ بله داچه هر کله مخدوم جهانیان په ۷۰۷ھ کښ پیدا
شوے وو. نو که په ۷۳۳ھ / ۱۳۳۴ء د دنیا په سیاحت دد وئ
روانیدل او کړو. نو دا به چه د ۲۶ یا ۲۷ کالو په عمر د

ملتان نه په سفر روان شوے وو ۔

لکه چه مخکښ ورته اشاره شوے ده. د کتاب سیر الاارفین
۱ تاریخ فرشته. او الدر المنظوم درے وار و د روایت مطابق
حضرت سید احمد کبیر داخیل نامور څوئ د اوه کالو په عمر په
۷۰۲ھ کښ د شیخ جمال خندان رور سره سبق ته کښینولے
وو. هر کله چه د هغے زمانے د طریقه درس مطابق د انلسو کالو
زمره پورے سرے د ټولو علمونو د تحصیل نه فارغ کیده. نو
دے په چه حضرت مخدوم به په ۷۲۵ھ کښ د دینی علمونو د تحصیل
نه فارغه شوے وو. ورپسے نو راته کاله به یے د خپل پلار سید احمد
کبیر. خپل ترره سید صدر الدین محمد غوث کبیر. او حضرت ابوالفتح
رکن الدین رکن عالم نه په سلسله سهروردیه کښ سبقونه اخیستی
وو. خرقه د خلافت به یے حاصله کړے وه. او په ۷۳۳ھ / ۱۳۳۴ء کښ به
علوم ظاهری او باطنی د نور و فیوضاتو حاصلولو د پاره په سفر
روان شوے وو ۔

د پورته بیان نه دا معلومه شوه چه بهرحال د دوئ اولنے
سفر د ۷۳۵ھ نه مخکښ او د ۷۳۳ھ / ۱۳۳۴ء په زمانه کښ وو. په دے
سفر کښ د مفتی غلام سرور لاهوری د قول مطابق (خزینة
الاصفیاء جلد ۱ ص ۵۵) د مصر شام. عراق عرب، عراق عجم،
روم او خراسان سفرونه یے اوکړل. د کنز و لویو مشایخونه یے
فیوضات حاصل کړل. د پیر حجونه یے اوکړل. چه په هغے کښ شپږ
حج اکبره وو. پوره اوه کاله یے په مکه مکرمه کښ او دوه کاله یے
په مدینه منوره کښ تیر کړل. او د حضرت مخدوم جهانګیر اشرف
سمنانی د قول مطابق (لطائف اشرفی جلد ۱ ص ۳۹)

" په دنیا کښ نور پیر دا سے اولیاء هم تیر شوی دی چه هغوی معلوم
اوحقائقو په تالاش کښ سیاحتونه کړی دی . لیکن د مخدوم جهانیان
هم په سیاحت هیڅ اهم نه دے کړے . دوئ د ټول ربع مسکون سیاحت
کړے وو . او شاید دا سے کوم یو فقیر به په کښ پاتے شوی وی . چه
دوئ ترینه پوره فائده نه وه حاصله کړے .

ظاهره ده چه د خزینة الاصفیاء اولطائف اشرفی دا بیانونه
د حضرت مخدوم د هغه ټولو سیاحتونو په حقله دی چه حضرت
مخدوم په ټول ژوند کښ کړی دی . دلته سوال دا دے چه حضرت
مخدوم چه په سنه ۷۳۳ھ کښ په اول ځل په سفر کښ ئے او له کاله په
مکه مکرمه اودوه کاله په مدینه کښ تیر کړی وو . نو چه نور نهه
کاله نه ئے د نورو اسلامی ملکونو سفر کړے وو . او د دے اولنی سفره
واپس بهاولپور اوچ ته راغلے وو . په دے خبره د پوهیدلو د پاره لاندنی
یوڅه تاریخی حوالے په نظر کښ اوساتو .

(۱) د "خزانه جلالی" نوم کتاب د روایت مطابق په سنه ۷۴۸ھ کښ حضرت
مخدوم جهانیان د مملکت فارس (ایران) په شوکاره نوم ښهر کښ د
شیخ شرف الدین محمود په خدمت کښ حاضر شوے وو .

(۲) د پښتو مؤرخ خواند د روایت مطابق په سنه ۷۴۹ھ کښ د ګوالیار
په "شهر علی" نوم مقام کښ وو . او د غلته حضرت مخدوم بعضو
المعروف په خواجه یحیی کبیر غورغشتی ترینه بیعت کړے وو .

په دے پورتنو روایتونو د غور کولو نه معلومیږی چه حضرت
مخدوم جهانیان چاه په اول ځل په سنه ۷۳۳ھ کښ په سفر تلے وو .
په سنه ۷۵۰ھ کښ واپس اوچ بهاولپور ته راسیدلے وو . او په سنه
کښ د شوکاره او په سنه ۷۴۹ھ کښ د شهر علی قیام ئے د سفر د واپسۍ

وان کښ وو .

دویم سفر

دویم جهانیان د دویم وار سفر او سیاحت په سلسله کښ په روایتونو
فرق دے . او د هغے په وجه دا معلول به غواړی چه دے په دویم وار
سفر کښ روان شوے وو . او بیا کله راواپس شوے وو . دغه
شان روایتونه دادی .

د کتاب الدر المنظوم (ص ۲۵۵) د روایت مطابق حضرت مخدوم جهانیان
سلطان محمد تغلق ماله د شیخ الاسلام عهده راکړه . او څلویښت
موزه ئے حما په تحویل کښ راکړل . شیخ رکن الدین ابو الفتح راته په
کښ حضور شو . او ئے فرمائیل چه ته حج له لاړشه غرق به شی .
عمر شو د حضرت شیخ د درګاه امام راته او فرمائیل چه فوراً روانیږه
یری کوے . شیخ تاته اشاره کړے ده . چنانچه ما د خپل والد نه رخصت
یست روان شوم " په اخبار الاخیار ص ۱۴۲ کښ هم دا لیکی چه محمد
ورله د خانقاهونو سنه ورکړے وو .

د روایت نه موږ دے نتیجے ته رسیږو . چه هر کله په سنه ۷۵۰ھ کښے
دم جهانیان واپس اوچ بهاولپور ته راورسید لے وو . نو د سنه ۷۵۱ھ
یزه سلطان محمد تغلق ورله د شیخ الاسلام عهده ورکړے وه . او ۷۵۱ھ
ده سنه ۷۵۱ھ کښ به سمدستی بیاد وبارا د حج په سفر روان شوے
د پورتنی روایت تسلیم کولو په صورت کښ په سنه ۷۵۱ھ کښ د مخدوم
یان پر دویم سفر روانیدل به څامخا منو حکه چه بیاد سنه ۷۵۲ھ
ه کښ یعنی په ۲۱ محرم سنه ۷۵۲ھ کښ خو سلطان محمد تغلق د وادئ
سنده په اتصله نوے مقام کښ په حق رسید لے وو .

د مخدوم جهانیان په حقله د " الدر المنظوم " د پورتنئ حوالے

په مقابله کښې د اکبر شاه خان سلارزی نجیب آبادی د کتاب "آئینه حقیقت نما" بیان څه بل څه دے. هغه لیکی چه:-

هر کله د سلطان محمد تغلق د وفات (۲۱ محرم ۷۵۲ھ) نه روسته په ۲۴ محرم ۷۵۲ھ فیروز شاه تغلق بادشاه شو. نو مخدوم جهانیان له یې د "شیخ الاسلام عهده" رکړه. دے روایت نه مونږ ته دا نتیجه په لاس راځی چه حضرت مخدوم له د "شیخ الاسلام" عهده محمد تغلق نه نه وه رکړے بلکه فیروز تغلق ورکړے وه. اود څښرے ته تقویت دے نه رسیږی. چه د آئینه حقیقت نما (جلد ۲ ص ۵۹۲) د بیان مطابق فیروز شاه تغلق په حقیقت کښې د شیخ نصیر الدین چراغ دهلوی په مرسته او امداد بادشاه شوے وو. اول طرف ته حضرت مخدوم جهانیان چه د حج بیت الله نه واپس راغلے وو. نو د حضرت امام عبد الله یافعی شیخ مکه مکرمه د هدایت مطابق د حضرت شیخ نصیر الدین چراغ دهلوی مرید شوے وو. هر کله چه سلطان فیروز تغلق د سلطان محمد تغلق د زمانے تول حکومتی افسران مشائخ او علماء بدلول. او نوې د نوی سره مقرر کړل. نو دا یانه ممکنه ده. چه په دغه سلسله کښې د شیخ نصیر الدین چراغ دهلوی د مریدی او خلیفه والی په وجه د حضرت مخدوم جهانیان نه د سیوستان د خانقاه محمدی اونور خلو سیو خانقاهونو انتظام هم واله کړے وو. مګر د خپل پیر طریقت حضرت شیخ ابو الفتح رکن الدین له طرفه چه په خوبونو کښې ورته کوم حکم شوے وو نو د هغے په بناء په ۷۵۲ھ/۷۵۳ھ کښې به حضرت مخدوم د حج په سفر روان شوی وو. که دا روایت او توجیه او منلے نو بیا په دویم سفر کښې د حضرت مخدوم د راوبلو کال ۷۵۱ھ نه ۷۵۲ھ/۷۵۳ھ ته بدلیږی کنه لو.

د مختلفو تذکرو په بیانونو چه غور او کړو نو دا سے معلومیږی چه حضرت مخدوم دے دویم سیاحت نه د ۷۵۷ھ نه روسته او د ۷۶۰ھ نه وړاندے راغلے دے. په ۷۵۷ھ کښې دے د پیر طریقت حضرت نصیر الدین چراغ وفات شوے دے. او د ۷۶۰ھ نه مخکښې بهاولپور ته راتلل محکمه بیښی دی چه د "مناقب الولایت" نوے کتاب د روایت مطابق په ۲۰ شعبان ۷۶۰ھ د حضرت مخدوم جهانیان کشرے رور حضرت سید صدر الدین محمد راجو قتال پیدا شوے دے. او د کتاب "سبع سنابل" (قلمی نسخه ص ۱۰۱ او مطبوعه مطبع کانپور ص ۵۲) د بیان مطابق په کوم کال (۷۶۰ھ) چه سید راجو قتال پیدا شوے دے. هم په دغه کال د هغه والد ماجد سید احمد کبیر وفات شوے دے. او بله داچه په دغه موقعه حضرت مخدوم جهانیان په اوچ کښې موجود وو. او بیا په کتاب سبع سنابل کښې چه کوم نور تفصیل بیان شوید ے د هغے نه هم معلومیږی چه حضرت مخدوم جهانیان په ۷۵۸ھ کښې واپس بهاولپور ته راغلے وو.

که مونږ دا روایت او توجیه ونه منو نو د ولیم شو چه د مخدوم جهانیان دا دے دویم سفر زمانه زیات نه زیات څلور یا پنځه کاله وو.

د دریم سفر

په ۷۶۳ھ کښې د مخدوم جهانیان په اوچ کښې موجودګی د یوړنه بیانونو نه ثابته شوه. په دے سلسله کښې په "آئینه حقیقت نما" (ص ۵۹۲) کښې د شمس سراج عفیف یو تفصیلی بیان درج شوے دے چه هر کله په ۷۶۶ھ کښې د فتحه او سند هپه د وه حکمرانانو جام او بابنیه باندے ملک فیروز شاه تغلق لښکر کشی او کړه. نو فتحه د حکمران "جام" په درخواست باندے حضرت مخدوم جهانیان

د "اوچ" نه تهته تاراغے۔ په مخه د بادشاه لښکر ته ورغے۔ هلته پیر په قدراوعزت ئے استقبال اوشو۔ د تهته خلق چه د دوئ د تشریف راوړلو نه خبر شول هغوئ هم پیر خوشحال شول چه اوس به خدائ خیر کړی۔ چنانچه حضرت مخدوم جهانیان د مسلمانانو د دے دوارو لښکرو ترمنځه شو صلح ئے راواسته د پاره د دے چه دوارکه طرف ته مسلمانان دی۔ چه د مسلمانانو د لاس نه د مسلمان ویني اونه بهیږی۔

د دے پورتنو روایتونو نه مخه د ۷۶۰ هـ نه تر ۷۶۶ هـ پورے په اوچ کښ د دوئ موجود والے معلومیږی اوځمونږ سره څه داسے روایت نشته دے چه په دغه منځ کښ دوئ د حج بیت الله د پاره تشریف وړے وو۔ که نه۔ د دے نه علاوه یو دوه نور روایتونه داسے دی۔ چه د هغے نه د دوئ د دریم سفر اوسیاحت پته معلومیږی۔

الف په دے کښ یو روایت د تاریخ فرشته (جلد ۲ صفحه ۴۱۶) دے۔ چه حضرت مخدوم جهانیان په ۷۷۲ هـ کښ د حج د سفر نه اوسیاحت نه راواپس شوے دے۔

ب او دویم روایت د تاریخ صولت افغانی دے۔ چه حضرت خواجه سید جلال کبیر غورغشتی د خپل پیر طریقت حضرت مخدوم جهانیان علیه الرحمة په ملکر یتا کښ په ۷۷۷ هـ کښ حج گذارلے وو۔ او د دے حج گذارلو نه مخکښ دوئ د خراسان بخارا۔ عراق سیاحت کړے وو۔ او د هغه زمانے د مشاهیرو اولیاء الله و سره ئے صحبتونه شوی وو۔

د دے پورتنو دواړو روایتونو نه مونږ دا نتیجه اخیستلے شو۔ چه حضرت مخدوم به د دریم سفر د ۷۷۰ هـ په شا وخوا کښ کړے وی۔ او د پنځه کاله سیاحت نه پس به په ۷۷۲ هـ کښ واپس بهاولپور ته راغلے وی۔

۷۷۰ هـ نه تر ۸۰۰ هـ پورے په دے منځ زمانه کښ د حضرت مخدوم سفر او سیاحت څه ذکر حماد نظر نه نه دے تیر شوے۔ نور تحقیق والا دی البته د ۸۰۰ هـ نه تر ۸۰۴ هـ پورے په اوچ کښ د دوئ موجود والے د دیوے بلے واقعے نه ضمناً معلومیږی۔ اوهغه دا دے۔ چه هر کله د عراق د روایاتو سره په ۸۰۰ هـ یا ۸۰۳ هـ یا ۸۰۴ هـ کښ حضرت مخدوم جلال الحق قطب بنگال علیه الرحمة وفات کیده۔ نو هغه دا وصیت کړے وو۔ چه د جنازے د امامتی نمونځ دے د مخدوم جهانیان نه په غیر بل څوک نه کړای۔ د حضرت شیخ مریدان دے خبرے په آوریدلو حیران شول۔ کله وخت شیخ علاء الحق وفات شو۔ جنازه ئے د مانځه د پاره په میدان کښ بندول شوه۔ نو چه څه کوری حضرت مخدوم جهانیان د صفونو نه کښ ولاړ وو۔ او د جنازے امامتی ئے ادا کړه۔ بیا حضرت مخدوم د دغے زیارت څه ورځے نور هم په بنده وکانو سے مقام کښ پاتے شو۔ کنړ خلق مریدان شول۔ د حضرت "نور قطب عالم" تربیت ئے اوفرمائشیلو نه ئے د حضرت شیخ علاء الحق په گدئ کښ بیلو۔ او بیا واپس اوچ ته راغے۔

بهرحال هر کله چه حضرت مخدوم جهانیان په اول حل د خپل سیاحت روان شو۔ او د حج په موقع بیت الله ته اورسیده نو هلته په مکه مکرمه کښ ئے د حضرت شیخ عفیف الدین عبدالله نومورے نه بیعت اوکړو۔ ورپسے اوه کاله نوریه مکه مکرمه کښ ئے هغوئ په خدمت کښ تیر کړل۔ د سلسله سهروردیه د مشهور مشائخو حضرت شهاب الدین سهروردی مشهور کتاب عوارف هم ئے د هغوئ نه په درس اولوستلو۔ د هغوی نه ئے هم خرقه خلافت حاصله کړه۔ او بیا هم د دے شیخ علیه الرحمة د ارشاد نه کاذرون ته لاړ۔ اوهلته ئے د حضرت شیخ امین الله

کا ذرونی نه فیض اومونده او خرقه د خلافت او تبرکات یې حواله
کړل. دهغوی په خدمت کښ څه موده تیر ولونه پس بیا روان شول
او د مصر. شام. عراق عرب. عراق عجم. بحرین. قطیف. یمن او عدن
بصره او کوفه. دمشق او لبنان. مدائن. بلخ. بخارا. سمرقند. ابیورد
شیراز. تبریز. نیشاپور. غزنی. کابل. کوه سلیمان. خراسان. دهلی
پیښور او بنګال وغیره ملکونو سفرونه اوکړل. او په دغه منځ کښ شیر
خله حج یې هم اوګذاره. اوهم دا اولنی سفر وو. چه د دې نه په ۷۳۰ھ
کښ ملتان ته راغلے وو. لکه چه مخکښ ورته ضمناً اشاره شویده. او
د چه په دې سفر کښ په آخری ځل د حج د ګذارلو په موقع د بیت الله
نه واپس ګیده. نو هلته په مکه مکرمه کښ د حضرت شیخ عبد الله
یافعی نه هم فیض حاصل کړے وو. او بیا هم د دې حضرت امام یافعی
د ارشاد مطابق مخدوم جهانیان چه ملتان ته واپس راورسیدلو نو منځ
دهلی ترلاره اوهلته یې د حضرت خواجه نصیر الدین چراغ دهلوی
نه په سلسله چشتیه کښ بیعت کړے وو. او خرقه د خلافت او مناکحت
کړے وه. شاید هم د دې تعلق په بنا چه ګلر خواجه نصیر الدین چراغ
پر کوشش سنه په ۲۴ محرم ۷۵۳ھ کښ فیروز تغلق بادشاه شو
نو هغه د مولانا رکن الدین په ځای حضرت مخدوم جهانیان د
شیخ الاسلام او صدر الصدور عهده ورکړے وه.

کرامتونه

حضرت سید اشرف جهانګیر سمنانی په خپلو مکتوباتو کښ لیکی
چه څومره خوارق او کرامتونه د حضرت مخدوم جهانیان نه صادر
شوی دی. په متأخرینو بزرګانو کښ د بل یو بزرګ هم نه دی
شوی. د تبرک د پاره د دوی د کرامتو څو واقعات دلته درج کوو:

۱ د دوی د کرامت یوه مشهوره واقعه داده. چه وایی د حضرت
شیخ علاء الحق الملقب په «قطب بنګالی» او «شیخ علائی» د جنازے په
وخت کښ پیښ وه نه د دوی رسیدلو وو. د سلوک او تصوف په اصطلاح
کښ دایوه مرتبه ده. چه دیته «طے مکان» او «طے زمان» وییلے شی. کوم
رګ چه د ابدالو او ورپسے د قطب په مرتبه وی. هغه ته دغه
«طے مکان» مرتبه حاصله وی. او د ستر ګو په رپ کښ د دنیا د یوسره
تر سره رسیدلے شی. د مخدوم جهانیان د کرامت دا واقعه چه د حضرت
شیخ الحق د وفات نه پس عین د هغه جنازے د نمونځ ګذارلو په موقع
مخدوم جهانیان د اوچ بهاولپور نه په یوه لحظه ساعت کښ پیښ وه
تر سره رسیدلے وو. دا د «طے مکان» مرتبه ده. چه هر یو قطب او هر یو
ابدال ته حاصله وی. دا دے مرتبے مطلب دا وی چه د زمکے تنا بونه
وه صله راسره نه شی. د حضرت شیخ عبد القادر جیلانی قدس سره د «اسبوع
شریف» په دے جمله کښ «هُوَ الْقَرِیبُ الَّذِی یَجُوزُ جِهَاتِ الْقُرْبِ وَالْبُعْدِ عَنْ
عُیُونِ الْعَارِفِینَ» کښ هم دے ته اشاره ده. په دے پسے چه د «طے زمان»
لومړے مرتبه ده. د هغے یو مثال به روستو د حضرت شیخ عبد الغفور نقشبندی
پشاوری په تذکره کښ راشی.

۲ حضرت مخدوم سید اشرف جهانګیر سمنانی لیکی؛ چه حضرت
مخدوم جهانیان د حضرت شیخ عبد القادر جیلانی سره بے د ریغه
عقیدت لرلو. په دے سلسله کښ روایت دے. چه یوه ورځ حضرت مخدوم
جهانیان مخپل خانقاه کښ ناست وو. چه ناسا په د اوبنو باچونو پوتو پ
باندے اوراولګیده. لمبے یې وهلے. حضرت مخدوم جهانیان یوه چونه
خاوره راپورته کړله په اوچت اواز یې دا الفاظ ولومړل. «یا شیخ محی
الدین عبد القادر جیلانی!» او هغه چونڅی خاوره یې د اوراف په ګذار

کړله. دَ کذا رلو سره سم هم په هغه ساعت فوراً هغه اوږد اسے مړ شو. لکه چه نوم نشان یے نه وو.

۳ روایت دے. چه یو ځل حضرت مخدوم جهانیان دَ اوچ په جامع مسجد کښ دَ کښرو عالمانو او درویشانو پیر ملکرتیا کښ معتکف وو. چه په دے منځ کښ د هغه وخت دَ اوچ حاکم د دوئ زیارت له راغے. حاکم په دَ مخدوم جهانیان نه ګیر چا پیره دَ دوئ یو نیازمند وو. ره کنړه ولیدله. نو په دے پیر و درویشانو یے دپکه دهرکه اوکړله. او دَ جماعت نه یے اوکښل. دَ حضرت مخدوم جهانیان چه ورته فکر شو. نو حاکم ته یے اووئیل "اے بد بخته ته لیونے شوے یے چه درویشانو ته تکلیف ورکوے". چنانچه دَ مخدوم جهانیان دَ خولے نه دا الفاظ وتلے وو. چه سمدستی حاکم لیونے شو. جامے یے اوشلولے. او په لار و کوڅو کښ زغلیدلے. دے په مشکله خلقو راقابو کړلو. او په پښو کښ یے ورته زنځیرونه واچول. دَ دغه حاکم بوډا اپلار دَ حضرت مخدوم په خدمت کښ حاضر شو. معافی یے اوغوښتله. حضرت مخدوم پرے رحم اوفرمایه. ورته یے اووئیل چه لاړ شه. خوئ له دے محل ورکړه. نوے جامے ورته واغوندله. بیا یے دَ حضرت شیخ جمال خندان رونړ له بوځه. چه زیارت اوکړاری. بیا یے دلته راوله. دَ حاکم پلار لاړ. چه څرنګ ورته هدایت شوے وو. دَ هغے تعمیل یے اوکړ. او چه هغه لیونے یے دَ حضرت مخدوم جهانیان مخے له راووست. په هغے دم روغ شو. بیا دَ حضرت مخدوم مرید شو. او دَ کمال درجے ته اورسیدلے.

مبارک اخلاق

حضرت مخدوم جهانیان به دَ غیر شرعی رسمونو څخه ډیر پرهیز کولو. تر دے حده چه په غیر شرعی تعلیم لکه پښے سنګلول یا پښو ته لاسونه سنګته کیدلو به خفه کیدلو او داخبرے به یے قطعاً نه خوښولے. که څوک

مریه به راغے. او دَ عزت په خاطر به یے دَ دوئ دَ پښو سنګلو لو کوشش کاوو نو هغه به یے پښو ته راسنګته کیدلو ته نه پریښودلو. او نه به یے کوم مریه ته دا اجازت ورکولو چه هغه راشی. او دوئ په پښو کې سر کیږدی.

یو مرید د دوئ په تعریف کښ یو نظم لیکلے وو. په هغے کښ دَ حضرت مخدوم دَ نامے سره "سید السادات" "مه وایے بلکه "ګدایے عالم" راته وایے. که فکر اوکړو د دوئ دا قول په ډیره تواضع دلالت کوی.

دَ دوی په طبیعت کښ ډیره زیاته خاکساری او کسر نفسی وه. دے خبرے مثال دادے چه یو ځل خواجه شیخ شرف الدین احمد منیری بهاری سهروردی خپلے پنډے دوئ ته راولیږلے. غرض یے دا وو. چه زه ستاسو دَ پښو مبارکو دَ پنډو په مثال یم. دَ هغے په جواب کښ حضرت مخدوم ورته خپل پښتے اولیږلو. مطلب یے دا وو. چه ته خو دَ پاره دَ "سرتاج" یے.

حضرت مخدوم به دَ سماع (قوالی) آوریدلو نه په ډیر زیات پرهیز کولو. فرمایل به یے په سماع کښ اختلاف دے. لیکن دا دهغه سړی دَ پاره مباح کیدلے شی. چه دَ قوالیٔ اوریدلو اهلیت لری. (دلته دا یاد لرل پکار دی چه دَ لفظ سماع لغوی معنی دله آوریدل. او په اصطلاح کښ صرف هغه قوالیٔ ته سماع وایی. چه خوش آوازئ سره د حمد او نعت اولوستے شی. دَ زمانے په تیریدلو عارفانه او صوفیانو کلام چه هغه فحش نه وی. دَ هغے آوریدل هم په دے تعریف کښ شامل کړے شول. لیکن دَ دے شرطونو دَ پابندئ سره چه قوالی کونکے به بنځه نه وی. پی څخ هلک به نه وی. او په ګډه وډ ونک یعنی ساز او سرود به ورسره نه وی. که دا څیزونه ورسره وی. نو بیا په اتفاق دَ ټولو علماؤ نو سره دغه سماع او قوالی نا جائزه ده. دَ حضرت شیخ نظام الدین اولیاء په کتاب کښ راوړی دی.

چه یو ورځ د حضرت شیخ نظام الدین اولیاء نه چا تپوس اوکړو سید
یا شیخ! فلانکے بزرګ خو د قوالۍ په وخت کښ سازاو سرود هم ورسره
آوری. نو حضرت سلطان المشایخ اوفرمائیل. چه د احرام کارډے او
که بالفرض یو بزرګ حرام کارکوی نو د بزرګ په فعل هغه حرام کار نه
حلالیږی. بلکه داسے وایه چه یوسړے. ځان ته بزرګ هم وائی او خلاف
شریعت کارهم کوی.)

د حضرت مخدوم جهانیان لوئ کارد دین اسلام تبلیغ او نشر و
اشاعت وو. بےشمیره کفار او مشرکین د دوئ په مبارکو لاسونو مسلمانان
شوی او په ایمان مشرف شوی وو.

(وفات)

د عامو تذکرو د روایت مطابق په ورځ د چارشنبے چه دغه د لوئ اختر
ورځ هم وه. یعنے د ذالحجه لسم تاریخ وو. په ۷۸۵ هـ کښ وفات شو.
لیکن مفتی غلام سرور لاهوری پخپلو کتابو کښ ئے تاریخ وفات ۷۸۸ هـ
بیان کړے دے. او د وفات مادله د تاریخ ئے داجمله لیکلے دے. (مجدد زمان)
مزار مبارک ئے په اوچ بهاولپور کښ دے. او مرجع د عام او خاص دے. اوچ د
یو مشهور تاریخی مقام نوم دے. چه په سابق ریاست بهاولپور کښ واقع
دے. او د ملتان نوے سمت ته جنوب مغرب طرف ته د (۷۰) میلونو په فاصله کښ دے.

(ملفوظات)

د دوئ ملفوظات چه د دوی مریدانو د کتاب په شکل کښ راجمع کړیدے
د هغو د کتابونو نومونه دادی. خزانه جلالی. سراج الهدایه. جامع العلوم
په دے کتابونو کښ د تصوف ټول حقایق او د علم اخلاق مسائل په ډیره
ښکلے طریقه سره بیان شوی دی. چه د عامو مسلمانانو د روحانی
مذهبی او اخلاقی اصلاح د پاره ډیر زیات فائده مند کتابونه دی.

خلیفه ګان

د چه د حضرت مخدوم جهانیان د مریدانو ټول تعداد یو لکهه
او دیرش ۱۳۰ شپیر اتیا وو. چه دلته د دوئ د یو څو نامورو خلیفه ګانو
نومونه لیکلے شی.

(۱) حضرت سید اشرف جهانګیر سمنانی، عراقی، متوفی ۲۷ محرم
۸۰۸ هـ

(۲) حضرت سید صدرالدین محمد الملقب په راجو قتال چه د حضرت
مخدوم جهانیان خپل سړور وو. او مزار مبارک ئے په دهلی کښ دے.
لیکن په بل روایت د دوئ مزار هم په اوچ کښ دے. په ۱۶ جمادی الاخر
۸۲۷ هـ کښ وفات شوے وو.

(۳) حضرت سید علم الدین د ترمذی ساداتو د خاندان نه وو. اصلی
وطن ئے قنوج وو. د مخدوم جهانیان مرید شو. جونپور ته لاړ. او
هلته پاتے شو.

(۴) حضرت شیخ سراج الدین متوفی ۸۸۲ هـ د قرآن مجید حافظ وو.
د مخدوم جهانیان د پیر کلونه ورپسے نمونځونه ګذارلی وو. مزار مبارک ئے په
ډهلی کښ دے. دے نه علاوه حضرت سید اشرف الدین مشهدی،
سید علاء الدین حسینی سید محمود شیرازی، شیخ تاج الدین بهکری،
مولانا عطاء الله، حضرت نور قطب عالم زاهدی او حضرت خواجه یحیی
د غورغشتی ئے هم مشهور خلیفه ګان وو. (د یحیی کبیر تذکره به راشی)

روحانی اثار

د چه مخکښ ذکر او شو حضرت مخدوم جهانیان جهان ګشت
د خلقه د تمامی دنیا سیاحت کړے وو. او په دویم ځل سفر کښ
د سره د خپل مشهور مرید خواجه یحیی کبیر غورغشتی هم ملګرے

وو - حضرت مخدوم چه ددے دوئیم حل سیاحت په دوران کښې د بخارا په کوم کوم ځائے کښې کرځیدلے وو. او چرته چرته ئې پښې اوکښیږدلې عبادتونه اوریاضتونه ئې کړی وو. بیا روستو دغه ځای مسلمانانو حضرت سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان بخاری دعبارت اوریاضت په دغه ځایونو باندې یاخو:-

(الف) خانقاهونه جوړ کړی دی.

(ب) یایئے پرے تسلی جوړ کړی دی.

چه نن ورځ دعوامو پښتنو دې بے علمئ، ناواقفیتا اوبے خبرئ په وجه د سید جلال الدین حسین بخاری دعبادت اوریاضت دغه ټول ځایونه د "دوئ د زیارتونو" په نامه مشهور دی. بلکه دوئیر ساده توب په وجه تردے حده قیصے کوولے شی. چه حضرت سید جلال بخاری علیه الرحمة اوه ځایه بنسخ شی. لاحول ولاقوة

چنانچه هم ددے بے خبرئ په وجه په سابق سرحد اوتنابنی علاقو کښې ددے نمونے اولاځایونه داسے موجود دی. چه هغه هره ناه د سید جلال بخاری زیارت وئیلے شی. د مثال په طور:-

(الف) د ریاست سوات په "ابوها" نومے مقام کښې د سید جلال بخاری زیارت. (ب) په ضلع مردان کښې د مرکزی مقام مردان اوهوتی ترې د آثارقدیمه وو د پخوانی ډهیرئ د پاسه هدیره کښې د سید جلال بخاری زیارت (ج) د ضلع پیښور په اتمانزئ کښې د تنګی چارسدې سړک په غاړه کښې جنوب طرفته د سید جلال بخاری زیارت.

(د) په کرم ایجنسئ کښې د پیوریتئ کرم په علاقه کښې د سید جلال بخاری زیارت. سئول ددے نه علاوه په پښتونخوا کښې چه نورهم څومره زیارتونه د سید جلال بخاری زیارتونه نه دی. بلکه په

په کښې اکثر د حضرت مخدوم جهانی جهان گشت آستانے دی. د عبادت او ریاضت چیله خانے اوتکیه کانے دی. او بعض داسے دی چه هغه د مخدوم جهانیان په اولاد کښې د نورو سیدانو مزارونه دی چه د سید جلال الدین، د هغوی د نومونو سره په طور د لقب ذکر شوے دے. اوخبره داغلطه ده. چه سید جلال الدین بخاری اوه ځایه بنسخ شوے دے.

خبره داده چه لکه روستو په د مخدوم جهانیان د نامور خلیفه حضرت خواجه یحیئ کبیر غوربشتی په تذکره کښې هم پرے بحث راشی. هرکله چه په هغه زمانه د پښتونخوا د ټولو قبایلو لوئ روحانی پیشوا او مرشد سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان جهان گشت وو. په دے وجه هغوی د خپل نامور خلیفه خواجه یحیئ کبیر غوربشتی خواهش مطابق د پښتنو د هر یوتمن. پښت او قبیلے سره چه په کومه کومه علاقه کښې وړے او څنګه تیرے کړے وے. په دے غرض چه د خدائ مخلوق ته او معروف او د اسلام د نیکلارے تبلیغ او هدایت اوکړی. او د شریعت او طریقت په فیوضاتو باندے عام او خاص سرفراز ه کړی. نو په دغه وجه په هغه زمانه عامو او خاصو ټولو خاطر به د دغه خانقاهونه خپلے آستانے کوله. چه روستو د زمانے په تیریدلو - اوناواقفیتا اوکم علمئ په سبب رفته رفته د زیارتونه جوړ شول. او خبره تردے حده راورسیده چه نن ورځ شی حضرت سید جلال بخاری اوه ځایه دفن دے.

که فکر اوکړے شی. نو نن هم په ټوله پښتونخوا کښې هر هغه ځائے متبرک ګڼلے شی چه چرته کوم یو بنه سړی ناسته کړے وی. یا کوم افسوسناک شکل ئے دادے. چه د یو بزرګ د ناستے د ځای نه یو تن جوړ کړلے شی. جهنډے پرے اوګډولے شی. او دیوے پرے بلے شی.

او بیا زیاته د افسوس خبره داده. چه هغه بزرګ چه کوم تعلیمات مونږ ته پریښی وی. یعنی د خدای او رسول لاره را ته ښکول. د شریعت په احکامو پوره پوره عمل کوول. او د نیکۍ دینداری. دیانتداری پاکیزه ژوند تیرول. دغه هرڅه هیرکړے شی. او فقط د یو بزرګ نوم یاد اوساتلے شی. مونږ له د خپلو مشاهیرو بزرګانو د ژوند نه دا سبق آخیستل پکار دی. چه د دنیا په دے خوږ ژوند کښی د آخرت د پاره د نیکے توښے کټلو کوشش اوکړو.

تاریخی فایده

دلته د تاریخی فائدے په خاطر د یوخو خبرو درج کوول مناسب ګڼلے شی.

۱ یوه داچه حضرت سید جلال الدین بخاری ګنج علم (شهید) سنه ۳۸۶ھ او حضرت سید جلال الدین میرسرخ بخاری سنه ۶۹۰ھ په خاندانونو کښی لفظ د "جلال الدین" او "جلال" د هغوی بزرګ د نوم سره په طور د خاندانی لقب استعمالیږی. یعنی څرنګه چه د دوی د نوم سره دویم نسبتی نوم بخاری لیکلے شی. دے خبرے د بنود لو د پاره چه د ساداتو د خاندان د بخارا استوګن وو. دغه شان د دوی د نوم سره لفظ د جلال هم لیکلے شی. د حضرت مخدوم جهانیان په یوولسم پښت کښی برابر نیکه نوم احمد وو. چه قتال ئے عرف وو. د سید یوسف او ابومحمود ئے کنیت وو. او جلال الدین ئے لقب وو. په ۷۱۴ھ کښی پیدا شوے وو. او په ۷۸۴ھ کښی وفات شوے وو. د عراق نه بخارا ته هم دے راغلے وو. چونکه جلال الدین د دغه لقب وو نو روستو دغه په خاندان کښی دا لقب په موروثی شکل کښی پاتے شو. د مثال په طور د سید احمد قتال د یو څوی نوم علی وو. هغه په جلال الدین اکبر نامه مشهور وو. د دویم څوی نوم ئے

حسین وو. هغه په جلال الدین اصغر نامه باندے مشهور وو. او د دوی د اولاد نه ډیر زیات خلق د سادات په حیثیت استوګن دی. د جلال الدین استعمال شوے دے.

۲ داچه پورته ذکر شوے دا یوه داسے تاریخی نکته ده. چه د ګڼو موخلقو په ذهن کښی نه دے رسیدلے. هغوی د حیران نه عجیبه عجیبه قیصے جوړے کړے دی. ځکه مونږ او ویل چه د حضرت مخدوم جهانیان اسم محمد حسین دے. ابوالمحمود ئے کنیت دے. جلال الدین ئے لقب دے. او بخاری ئے نسبتی نوم دے. لکه د دوی د نیکه نوم چه محسن دے. جلال الدین جلال اعظم ئے لقبونه دی. او میرسرخ بخاری ئے نسبتی نوم دے. او د دے تاریخی نکتے نه داهم واضحه کیدے شی. چه هرکله د سابق صوبه سرحد (پاکستانی علاقو د بخاری سادات و اکثر خاندانونه هغه دی چه د اوچ او بورنه راغوړ کړه شوی دی. لکه د علاقه او رکزی تیراه. کوهاټ پیښور نښهر. هشتنغر. سوات او باجوړ. بخاری سیدان شول او په دے کښی اکثر د مخدوم جهانیان د خاندان بخاری سادات دی. په دے وجه د دے خاندان د اکثرو مشاهیرو بزرګانو د نومونو سره لفظ د "سید جلال الدین بخاری" په طور د خاندانی لقب سره استعمال شوید ے. او پردے امکنه دے چه د پښتونخوا په علاقه کښی څنے زیارتونه چه د سید جلال الدین بخاری په نوم مشهور دی. هغه د مخدوم جهانیان پاک خاندان کښی د پیروروستو پیرئ د بزرګانو سید انو زیارتونه دی. بهرحال دا یو داسے سوال دے. چاته زیاتی نور تحقیق په کار دی.

۳ دویمه نکته داده. چه د پیښور نښهر د بخاری سادات و په قلمی شجره کښی د مخدوم جهانیان د نوم سره په طور د لقب "گنج عالم" لیکلے شوے دے. دا لقب په نورو تذکرو کښی وجود نه لری. البته

دَمخدوم جهانیان په نمسوکښن دَیو نمسی نوم داسے را ښلے دے. سید عبدالرحمان "گنج عالم" ولد سید سراج الدین ولد سیدنا ناصرالدین محمود ولد سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان. که مونږ د پلپنور دَ شجرے په سند سره دَ مخدوم جهانیان دَ نوم سره "گنج عالم" یوځای نوم شمار کړو. نو دا به او وایو چه داهم دَ هغه نمونے لقب دے. لکه دَ حضرت شیخ بهاء الدین ذکریا قدّس سره دَ نوم سره چه "غوث العالم" لقب دے یا دَ هغه دَ نمسی شیخ رکن الدین دَ نوم سره چه "رکن عالم" لقب دے. ممکر دلته ورسره داهم یادلرل پکار دی. چه دَ مخدوم جهانیان دَ نوم سره دغه لقب یه "گنج عالم" لوستل پکار وی. حکه چه دَ سنه ۷۰۰ھ دَ زمانے ډیوین سید جلال الدین بخاری تذکره چه مخکښ په تفصیل سره درج شوے ده چه مزار مبارکیے په ملاکند ایجنسئ ریاست دیر کښ دے. دغه لقب "گنج علم" دے. بایدچه دے فرق لحاظ او ساتلے شی.

بخاری سادات

مخکښ دے خبرے ته اشاره ستوے ده. چه په مغربی پاکستان کښ بخاری سادات اکثر خاندانونه دَ اوچ نه خوا ره شویدی. او په دوئ کښے زیات تعداد دَ مخدوم جهانیان دَ کورنئ دے. دَ معلوماتو دَ زیاتوالی په خاطر دد ے مبارک خاندان په اختصار سره بیان مناسب معلومیږی.

دَ حضرت سید جلال الدین حسین بخاری مخدوم جهانیان پنځه څامن وو. نومونه یے دادی:-

(۱) سید حاجی ناصرالدین (۲) سید بهاؤالدین (۳) سید مکرم الدین (۴) سید حسن الدین (۵) سید نورالدین.

په دوئ کښ دَ حضرت مخدوم دَ مشر حوئ سید ناصرالدین څخه څامن وو چه نومونه یے دادی:-

سید حامد کبیر- سید علم الدین. سید شهاب الدین. سید اسماعیل. سید سراج الدین. سید فضل الله. سید برهان الدین (دد ه اولاد په کښ دے.) سید منورالدین المعروف بندگی شیخ الاسلام (دد ه اولاد دَ زیارت په قنوج نوے بنهر کښ دے.) سید نظام الدین (دد ه په قبایلی علاقه او کزائے تیراه کښ دے.)

لکه چه مخکښ ورته اشاره شوے ده. دَ حضرت مخدوم مشری حوئ ناصرالدین محمود دَ پنځم حوئ سید سراج الدین دَ حوئ نوم سید عبدالرحمٰن "گنج عالم" وو. دد ے حضرت سید عبدالرحمٰن دَ حوئ نوم سید رکن الدین وو. بیا دده دَ حوئ نوم سید بدهاشاه وو. بیا دَ هغه دَ حوئ نوم وو.

حضرت سیّد شاه رحمت الله چهانګلا موج دریا

چه په موضع منګوره علاقه خوشحال کړه ضلع کیمبل پور کښ ځے زیارت دے. دده دے څامن وو.

(۱) سید کجکولا (۲) سید امام علی (۳) امام حاجی شاه. دد ے دے وارګه څامنو قبرونه هم دَ خپل پلار حضرت موج دریا سره په موضع منګوره کښ دی. بیا په دوئ کښ دَ حضرت سید امام حاجی شاه دے څامن دے. دَ یو حوئ نوم وو.

سید نبی شاه علیه الرحمة

چه دَ ضلع پیښور دَ علاقه مهمند خصوصاً آګړی، متنی او کوهاټ مشهور دَ بخاری سادات خاندانونه دده اولاد دے. دد ے سید نبی شاه په پنځم پښت کښ بنګښه دَ یو نمسی نوم وو.

سید حسن شاه علیه الرحمة

دا سید حسن شاه دَ سنه ۱۰۵۰ھ په شاوخوا کښ دَ موضع آدی زی.

متنی نه کوهاټ بنهر ته تلے وو. اوهلته د کوهاټ بنهر په محله جنګل خیل کښ آباد شوے وو. اولاد یې تر اوسه دغلته آباد دے. دیره عزتمنه، روحانی، علمی او ادبی کورنۍ ده. د دے خاندان نامور افراد وپه تیرو درے سوه کلونو کښ په دے ملک د اسلام پیروغوښت کړیدے. د پښتو ژبے نامور ادیب پیر مطیع الله هم په دے خاندان کښ تیر شوے. د دے دیو مشهور مناجات ابتدائی دوه شعرونه راسره خبر ده کړه آګاهُو ∴ معبود نشته بے یا هُو
تل یا هُو کړه په زړه هُو ∴ په دنیا مکړه هاهُو

د حضرت سید حسن شاه د نسب شجره داسے ده. سید حسن شاه بن سید کوهر شاه بن سید رنګ شاه بن سید شیر شاه بن سید نجیب شاه بن سید نبی شاه بن سید حاجی شاه بن سید رحمت الله موج دریا علیهم الرحمة والغفران.

حضرت سیّد محمود پیر علیه الرحمة

د حضرت سید امام حاجی شاه د دویم حوی نوم وو حضرت سید محمود پیر علیه الرحمة چه د پښور بنهر. تحصیل پښور خصوصاً موضع دلازاک او کانګوله وغیره د بخاری ساداتو خانداتو نه دده په اولاد کښ دی. د ضلع کیمبل پور د علاقے نه په اول سر کښ هم دغه حضرت سید محمود پیر پښور بنهر ته تشریف راوړے وو. بیا دے هغه موضع دلازاک ته لاړل. اوهلته آباد شول. روستو تر پنځه وو پښتو پورے داخاندان هم هلته په دلازاکو کښ آباد وو. او بیا د هغه ځای نه دوباره دے خاندان سادات پښور بنهر ته راغلی دی. بیا له نږدے زمانه کښے سیّد آغا لعل بادشاه په دے خاندان کښ شیدا روح او سیاسی شخصیت تیر شوے دے. په پښور بنهر کښے د بخاری ساداتو

ده په کورنۍ هم ده چه په کریم شاهی بخاری ساداتو مشهور ده. دوی د نسب شجره حضرت سید محمد غوث لکه چه مخکښ اشاره وشوے ده. د حضرت مخدوم جهانیان مشرتره استاذ او پیر طریقت هم وو.

حضرت میران محمد شاه موج دریا بخاریؒ

د حضرت مخدوم جهانیان په اولاد کښ په ۱۰۱۳ هـ کښ یو بزرګ نومے پیدا شوے چه د هغه نوم "محمد" وو او په حضرت میران محمد شاه بخاری مشهور وُو. د اوچ نه لاهور ته راغلے وو. شهنشاه جلال الدین اکبر ورسره خصوصی عقیدت لرلو. د دوی د خانقاه د اخراجاتو د پاره یے په لاهور او بټاله کښ دیولاکه روپے جاګیر ښخلے ده. د دوی د دوو خامن زامنو سید صفی الدین او سید بهاء الدین چه د دے دوارو اولاد په لاهور او بټاله کښے آباد دے. اوږده چه مخکښ اشاره اوشوه حضرت میران محمد شاه په ۱۰۱۳ هـ کښے وفات شوے دے. علیه الرحمة والغفران.

سید احمد بخاری

د حضرت سید محمود ناصر الدین اول ابن مخدوم جهانیان دیوی حوی نوم سید فضل الدین وو. د هغه د حوی نوم سید علاء الدین وو. چه مزار یے په کشمیر کښے دے. بیا د دده د حوی نوم سید ضیاء الدین وو. او بیا د دده د حوی نوم سید احمد وو چه د کشمیر نه د ضلع کیمبل پور علاقه ته پرهلی نوم کلی ته راغلی وو. د ضلع مردان موضع لاهور ته راغلے دوباره بیا پرملی ته تلے وو. مزار یے په پرملی کښ دے. د دے حضرت سید احمد..... د حوی نوم وو سید جمال الدین چه مزار یے په قصبه لاهور میدان کښ دے.

حضرت سیّد پیر ابراهیم بخاری رحمة الله علیه

ولادت ——— ملتان

وفات ——— قبائیلی علاقه باجور

په قبائیلی علاقه باجور کښ د سادا تو کنډ خانډا نونه آباد دی. لکه سادات بنوړ خیل[1]، سادات مشوانی[2]، سادات تارن[3] سادات ترمذی[4] (د پیر بابا اولاد) سادات مکی (حاجی خیل سادات) سادات ابراهیم خیل[6]، سادات کاکا خیل[7] په باجور کښ د تر کلانی قوم مختلفو قبیلو چه په هر خوا مره ملاقو وادی کانو. د رو او رود بار کښ آباد دے. په هغے کښ د ے قوم د کل مقبوضه جائیداد پنځمه حصه د ے سادا تو سپیرکی دے. پدے سادا تو کښ د پیر لوئی لوئی عالمان او بزرگان تیر شویدی. او هر کله چه د تر کلانی قوم د ټولو قبیلو. لکه مامونډ، سلارزائے، اسماعیل زائے، عیسیٰ زائے خلق د عالمانو او سادا تو مشائخو د ومره قدر او احترام کوی. چه پخپل مجموعی جائیداد او ملکیت کښے د دغه پنځمه حصه ے د وئی ته په طور د سپیرکی ورکړے دے. نو هغه وجه ده چه د ے د عالمانو او بزرگانو د فیوضاتو له برکته پدے علاقه کښ د دین اسلام عزت او حرمت له حد نه زیات دے. او خلق ے په دین متین دی. دیندار او اهل سنت والجماعت مسلمانان دی.

د قبائیلی علاقے باجور د ابراهیم خیلو سادا تو مورث اعلیٰ حضرت شیخ المشائخ سید ابراهیم بخاری علیه الرحمة دے. چه مقامی طور په پیر ابراهیم بابا باندے مشهور دے. دے د خپلے زمانے لوئی ولی الله تیر شویدے. او د دین اسلام د اشاعت او تبلیغ او د معرفت او طریقت د فیوضاتو نه خورډ لو د پاره ے دے علاقے ته تشریف راوړے وو. دده شجره د نسب حضرت سید جلال الدین حسن میر سرخ بخاری علیه الرحمة ته رسیږی.

محققین مونږ د بحث کړیدے چه د قبائیلی علاقے باجور او همند په شجره کښ د سید عبدالله جعفر ثانی د پلار نوم سید امام حسن عسکری ټولے. لیکن د بزرگ جوړ کړهٔ د بخاری سادا تو بیان دادے چه د حضرت سید امام علی نقی

محققین مونږ د بحث کړیدے چه د قبائیلی علاقے باجور او همند په شجره کښ د سید عبدالله جعفر ثانی د پلار نوم سید امام حسن عسکری ټولے. لیکن د بزرگ جوړ کړهٔ د بخاری سادا تو بیان دادے چه د حضرت سید امام علی نقی

د قبائیلی علاقے باجور او همند د بخاری سادا تو شجره د حضرت سید جلال الدین میر سرخ په تذکره کښ بحث کړیدے. چه د دوئی د مشر حوئی نوم سید محمد غوث کبیر وو. او د دوئم حوئی نوم ے سید سلطان احمد کبیر وو. حضرت سید جلال الدین حسین مخدوم جهانیان جهان گشت د دغه گشتری حوئی فرزند اړجمند وو. چه هغه کښ ے تذکره بیان شوه. او د حضرت پیر ابراهیم بابا د شجرے وضاحت دے.

د قبائیلی علاقے باجور او قبائیلی علاقے همند د بخاری سادا تو د شجرو کښے د حضرت پیر سید جلال الدین میر سرخ د مشر حوئی نوم سید محمد غوث کبیر درج دے او بیا د هغه د حوئی نوم سید غوث بیان شویدے چه حضرت سید ابراهیم بخاری باجوړی علیه الرحمة سلسله د وئی تر سیږی نو ځکه د نسب ے دا سے دے:

سید ابراهیم بخاری ابن سید عزیز الله بن سید نور الله ثانی بن سید فتح الله بن سید نور الله اول بن سید نور محمد ابن سید نور الدین ابن سید ابو سعید مبارک بن سید غوث بن سید محمد غوث ابن سید ابو البرکات جلال الدین حسن میر سرخ بخاری بن سید علی ابو المؤید بن سید ابو علی جعفر بن سید صفی الدین محمد ابو الفتح بن سید محمد بن سید محمود اصغر بن سید احمد قتال ابو یوسف بن سید عبدالله بن سید علی اشتر بن سید عبدالله جعفر ثانی بن سید امام حسن عسکری بن سید امام علی نقی بن امام محمد تقی بن امام رضا بن امام موسیٰ کاظم بن امام جعفر صادق بن امام محمد باقر بن امام علی زین العابدین ابن سید الشهداء امام حسین رضی الله عنهم اجمعین

درے څامن وو۔ (۱) امام حسن عسکری (۲) سید حسین (۳) جعفر ثانی
پاڼ وئ کښ سید ابراهیم بخاری د موږ اعلیٰ میر سرخ بخاری د نسب شجره حضرت
سید جعفر ثانی تاه رسیږی لکه چه د حضرت سید علی ترمذی پیر بابا
د نسب شجره چه حضرت امام حسن عسکری تاه رسیږی. او د قبائیلی علاقے
مهمند د سید شیخ ذکریا شجره چه حضرت سید حسین تاه رسیږی۔

حضرت سید ابراهیم قدس سرّه پاڼ شجره کښ د حضرت میر
سرخ بخاری پاڼ یو د اسمه پیر ئ کښ نه سے دے۔ هر کاله چه حضرت میر سرخ
بخاری پاڼ سنه ۶۹۰ھ کښے وفات شوے دے۔ او د علم اصول تاریخ د یو روایت مطابق
پاڼ یوسل کاله کښ درے کسان راتلے شی۔ نو پدغه حساب حضرت پیر ابراهیم
د سنه ۱۰۲۳ھ د زمانے بزرګ دے۔ او پاڼ تاریخی اعتبار سره حضرت پیر سید
علی ترمذی پیر بابا او حضرت شیخ ابراهیم بابا د وارګه د یوے زمانے بزرګان دی۔
او د وارګه د شیخ سالار رومی مریدان هم دی۔

د حضرت سید پیر ابراهیم بابا متعلق د باجوړ او مهمند د سیدانو
د شجرو بیانونه مختلف دی۔ د مهمند و د شیخانو سیدانو روایت دادے۔ چه دے
باجوړ قبائیلی علاقے ته د غزنی نه راغلے دے۔ او د باجوړ د پیر ابراهیم خیلو
سیدانو خپل صحیح روایت دادے۔ چه دے د ملتان نه د موجوده ضلع کیمبلپور
پنجاب نے علاقے ته او بیا د هغه ځائ ته د باجوړ د ماموند و علاقے ته راغلے وو۔
ـــے آباد شوے وو۔ او هم دلته وفات شوے دے۔ او مزار مبارک ئے د ماموند و پاڼ
علاقه کښ پاڼ وادئ چارمنګ کښ د کوتکی نوے کلی خواته دے۔ د ولادت او
وفات د واړه صحیح تاریخ ئے تر دے وخته پورے ما ته معلوم نشوی ندی۔ البته
زمانه ئے هم هغه ۱۰۲۳ھ شاوخوا ده۔ او پاڼ سنه ۱۰۴۲ھ کښ باجوړ ته راغلے دے
د باجوړ د پیر ابراهیم خیلو سادات و روایت دے چه د حضرت سید
ابراهیم د څوئ لوم سید اسمعیل (چه پدغه درے میاشت پیر بابا لرے

ـــے زامے ئے دوه څامن پیدا شوی دی۔

(۱) میاں نور محمد چه مزار مبارک ئے پاڼ باجوړ وادئ بابو قره موضع چورګ
کښ دے۔ پاڼ چورګ بابا یادیږی۔

(۲) میاں شاه نور چه زیارت ئے د بابو قره پاڼ دانه وکوټ نوے کلی کښ دے۔ د
سید اسماعیل د وئمه لی بی پاڼ قام موسندګ پښتنه وه۔ د هغے نه ئے نور څوئ
پیدا شوے وو۔ سید جلال علیه الرحمة۔ دے پخپل ژوند کښ د علاقه چارمنګ
پاڼ وادئ جندول ته راغلے وو۔ د دلته آباد شوے او دلته بیا وفات شوے هم وو۔ پاڼ
تاریخی اعتبار سره د ۱۰۸۹ھ د زمانے بزرګ دے۔ د دے مزار مبارک د وادئ جندول پاڼ
د ره شالګنډی موضع چنګنر کښ دے۔ د حضرت سید جلال د رے څامن دو
(۱) د یو څوئ زیارت د تاکره سره نزدے پاڼ موضع پوپ کښ دے۔
(۲) د دویم څوئ زیارت پاڼ د ره شالګنډی موضع "کودر" کښ دے۔
(۳) د دریم څوئ سید مشهور نوم وو۔ د دے زیارت د پلار مزار سره یو څاے دے۔

روستو د میاں مشهور څوئ او میاں نشان د هغه څوئ وو۔ میر
سید هغه څوئ و سید شمال بیا د هغه څوئ و سید فلا اتردے نجم
پښتو پارے د سادات و د اخانان د باجوړ پاڼ جندول نوے علاقه کښ اوسیږی۔
او د دوئ پنځو وار وزیارتونه چه د ره شالګنډی کښ دی۔ چه اولاد ئے نن ورځ
پاڼ دے لرنه یو نوکلو کښ آباد دی۔ کودر، شیخ څئ۔ پوپ، بازارک۔ شاداس
بغږئ۔ مولی۔ پکی۔ پینګی سار وغیره (دلته دا بادلول پکار دی۔ چه
بغږئ۔ مولے نوے کلی د وادی میدان پاڼ د ره انګو پکئ کښ دی۔ او د بغږئ
کلی نوم نن ورځے پاڼ چنار کوټ باندے بدل شوے دے۔)

د ۱۲۵۳ھ پاڼ شاوخوا کښ د حضرت سید غلام محی علیه الرحمة
څوئ سید جدر د وادئ جندول نه د وادئ میدان چنار کوټ لوړ شو
ـــے۔ او دلته آباد شو۔ د ۱۲۸۷ھ پاڼ شاوخوا کښ وفات شوے دے۔

اومزار مبارک ئے پہ چنارکوټ کښ دے۔ ددکہ دحوئ نوم سید ابوالحسن وو۔
اودھغہ نہ ئے داولاد سلسلہ پاتے دہ۔ چہ سید جعفر نومے حوئے ئے
اوس ژوندے دے۔

پہ مجموعی اعتبار دبخاری سادات او دابراهیم خیل خانذان
سیدان دباجور پہ علاقہ مامونہ۔ باباوقرہ۔ جندول۔ میدان۔ برول۔
رودبار او چارمنگ کښ آباددی۔ دشریعت او طریقت سجادہ نشین
خانذان دے۔ اوددے علاقہ دینی اوروحانی رهنمائیے پہ سلسلہ کښ
یوہ مبارکہ کورنئ دہ۔

دبابر، همایون اودا کبر دحکومت پہ ابتدائی ورځو کښ چہ باجور
دمغلیہ حکمرانانو پہ قبضہ کښ وو۔ نو پہ باجور یوسالانہ خراج مقرر
وو۔ دحضرت سید ابراهیم بخاری پہ زمانہ کښ چہ دشهنشاہ اکبر
امیر زین خان کوکہ باجور دوبارہ رعیت کړ۔ نو حضرت سید ابراهیم
لہ ئے پہ سنہ ۱۰۰۴ھ کښ دیو فرمان پہ ذریعہ دعلاقہ باجور خراج
پہ جاګیر کښ ورکړ۔ دشهنشاہ جلال الدین اکبر دغہ تاریخی فرمان
چہ دابوالفضل علامی دستخط هم پرے موجود وو۔ دسید ابراهیم
بخاری دخانذان سرہ موجود دہ۔ چہ دتانبے پہ یوکلو یہ تختئ
کندہ شوے لیک وو۔ ددے نہ هم معلومبری چہ دباجور دتباٹیلو
دپارہ ددے سادات او دمبارک خانذان وجود څومرہ دبرکت باعث دو۔
علیهم الرحمة والغفران۔

سنہ ۹۷۴ھ — بسم الله الرحمن الرحیم — سنہ ۹۷۴ھ

شهنشاہ عبدالاکبر
درسنہ ۹۷۴ھ باجور سید ابراهیم ولد سید عزیز الله را بخشیدم وجہ آن بود کہ من بیمار بودم
درآن وقت او از ملتان آمد دعا از برائے من خواست ودعائے او خدا وند کریم قبول کرد
ازان وقت مرا صحت شد۔ ازین سبب من باجور او را بخشیدم۔ از دریائے کنڑ تا دریائے پنجکوړہ
وانہ بیابان تکړ تا غار کنور من او را بخشیدم۔ سید ابراهیم ملتانی ولد عزیز الله
جلال الدین اکبر شاہ۔ ولد نصیر الدین همایون
ولد ظهیر الدین بابر بادشاہ۔ ولد سید نور الله۔ الراجم متقی ابوالفاضل۔

حضرت شیخ مولانا عبدالوهاب رح

المعروف اخون پنجو بابا علیہ الرحمة

ولادت ——— ترکئ ضلع مردان سنہ ۹۳۷ھ
وفات ——— اکبرپور ضلع پشاور سنہ ۱۰۴۰ھ

حضرت مولانا شیخ قدوة العلماء والعارفین عبدالوهاب المعروف پہ اخون
بابا علیہ الرحمة دا کبرپور دے پینور یو مشهور عالم او روحانی شخصیت
وو شوید ے۔ چہ دشمال مغربی پاکستان پہ اولیائے کرام کښ ډیر اوچت
مقام درتہ حاصل دے۔ پہ سنہ ۹۳۷ھ کښ پیدا شوے او پہ سنہ ۱۰۴۰ھ
کښ دے ۱۰۳ کلو پہ عمر وفات شوید ے۔ علیہ الرحمة والغفران۔

حمادمطالع اومعلوماتو مطابق دده ئ حالات پہ لاندینو کتابونو
کښ ذکر شوید ی۔ تذکرة الابرار۔ آئین اکبری۔ مناقب شیخ عبد
الوهاب۔ چہ پہ ۹ نوم کښ دوکسانو کښ کتابونہ لیکلے دی۔ مثلاً (۱) مؤلف
خونہ ۱۰ سالاک (۲) تالیف دشیخ عبدالغفور (۳) تالیف دشیخ میاں علی
(۴) تالیف دملا خاکی (۵) او تالیف دمیاں بادشاہ۔ سلوک الغزاة۔ آئینہ
حسنون۔ بیاض دمیاں غلام صدیق۔ بیاض دمیاں الوحامد۔ تحفة الاولیاء۔
تاریخ او ادب تاریخ۔ پښتانہ شاعران۔ تذکرہ شیخ رحمکار، تاریخ یوسفزائے
مشائخ وعلماء سرحد۔

دلتہ اول دتحفة الاولیاء پہ روایت دمولانا عبدالوهاب
حالات پہ اختصار سرہ درج کوو ځکہ چہ ددے کتاب پہ بیان کښ بعض
نور تاریخی نکتے دی چہ دهغے وضاحت اودنور وتذکرو دبیانونو سرہ
پہ تطبیق ضروری دے۔ ورپسے پہ غور تہ ذکر شوو لومکتابونو۔ اود
هغو دبیانونو پہ تاریخی پس منظر باندے یوہ تاریخی او تحقیقی تبصرہ
درج کوول مناسب کښ وو۔ چہ ددے مشهور او نامور عالم اوروحانی پیشوا

797

حضرت سیّد عبدُ الحکیم بخاری علیه الرحمة

ولادت ——— پیښور ۱۱۵۵ھ

وفات ——— کوټ کړهئ مردان ۱۲۳۶ھ

حضرت مولانا شیخ المشائخ میاں اخوند سید عبد الحکیم بخاری علیه الرحمة په توره باچا حسینی سید وو. ددهٔ والد ماجد، ددکنیکه او ژوړبچی ددهٔ خاندان پورتنی برتنی بزرګان نیکونه پشت په پشت د ولایت او کرامت خاوندان لوی عالمان او سجاده نشین بزرګان تیر شویدی. اود مغربی پاکستان په شمالمغربی علاقو کښی د دین اسلام او خدمت چه د دې خاندان بزرګانو کړے دے. او د ظاهری او باطنی علمونو کسوفیوضات چه دوی خواره کړیدی. هغه د دے ملک د تاریخ یو زرین باب دے.

د حضرت سید جلال الدین حسین المعروف په مخدوم جهانیان جهانګشت بخاری علیه الرحمة په پنځم پشت کښی نیکه نوم حضرت سید ابو علی جعفر علیه الرحمة وو. چه په ۵۷۵ھ کښی وفات شوے دے. او مزار مبارک یې په بخارا کښی دے. چه شجره د نسب یې داسے ده. سید جلال الدین[1] حسین ابن سید سلطان امین[2] کبیر ابن سید جلال الدین[3] حسن الملقب په میر سرخ بخاری ابن سید علی[4] ابو المؤید (متوفی ۵۱۶ھ) مزار بخارا ابن سید ابو علی[5] جعفر علیه الرحمة. د دے سید ابو علی جعفر یو څوک سید علی ابو المؤید وو. چه د حضرت مخدوم جهانیان مشر نیکه وو. او دوئم څوک یې حضرت سید عبد الغفور علیه الرحمة وو چه په څوارلسم پشت کښی د حضرت اخوند میاں عبد الحکیم بخاری نیکه دے. او شجره د نسب یې داسے ده. حضرت مولانا اخوند سید عبد الحکیم[1] ابن سید یار محمد[2] ابن سید لعل محمد[3] ابن سید تاج محمد[4] ابن سید یار علی[5] ابن سید ابراهیم[6] ابن سید حسین[7] ابن سید علی[8] بلخی ابن سید تاظر[9] ابن سید تاکر[10] محمد ابن سید عبد الکریم[11] ابن سید نور الدین[12] ابن سید ابو الفتح[13] ابن سید

797

عبد الغفور[14] ابن سید ابو علی جعفر[15] ابن سید محمد[16] ابو الفتح صفی الدین (متوفی ۵۸۱ھ) ابن سید محمود[17] اصغر بخاری (متوفی ۶۴۷ھ) ابن سید ابو یوسف[18] قتال (متوفی ۴۱۳ھ) ابن سید عبد الله[19] (متوفی ۳۵۲ھ) ابن سید[20] اکبر (متوفی ۳۲۱ھ) ابن سید جعفر ثانی[21] ابن حضرت امام علی[22] رضا ابن حضرت امام محمد تقی[23] ابن حضرت امام علی رضا ابن حضرت امام موسیٰ الکاظم[24] ابن حضرت امام جعفر صادق[25] ابن حضرت امام محمد باقر[26] ابن حضرت امام زین العابدین[27] ابن حضرت سید الشهداء امام حسین[28] ابن علی ابن ابی طالب رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین ط

حضرت سیّد لعل محمد بخاری

حضرت سید عبد الحکیم بخاری نیکه یعنی د پلار پلار حضرت سید لعل محمد په نګرهار نامه مشهور دے. چه په سلسله عالیه نقشبندیه کښی د حضرت مولانا شیخ عبد الغفور پشاوری قدس سرّه خلیفه وو. او هم داهغه نامور بزرګ حضرت سید لعل محمد نګرهارے دے. چه د بلوچستان د مشهور بزرګ حضرت میاں عبد الحکیم کوربتاه ای تربیت یې کړے وو. او بیا روسته یې د زیاتی تربیت د پاره لمنپل پیر طریقت شیخ عبد الغفور پشاوری ته لیږلے وو. مزار مبارک یې په نګرهار (سمت مشرقی افغانستان) کښی دے.

حضرت سید یار محمد بخاری

حضرت مولانا سید لعل محمد نګرهارے فرزند ارجمند او د حضرت میاں عبد الحکیم والد ماجد حضرت مولانا سید یار محمد بخاری په یار محمد کابلی نامه مشهور دے او په سلسله نقشبندیه په بزرګانو کښی د اوچتے مرتبے خاوند دے. د ظاهری او باطنی علومو فیوضات یې د خپل والد ماجد او د هغوی د پیر طریقت مولانا شیخ عبد الغفور پشاوری نقشبندی څخه حاصل کړے وو. روسته د نګرهار نه پیښور ښهرته راغلے وو او دلته استوګن شوے وو. په دینی علمونو کښی د رجه د فضیلت ورته حاصله وه. لوی عالم او متقی عارف وو. د علم عقائدو او علم فقهه په موضوع د دوی یو تحقیقی کتاب ما

(عبدالحلیم اثر) د طالب علمۍ په ورځو کښې لیدلے وو. چاته د دغې نه علاوه د علم فقې په اکثر کتابونو د دې حاشیې هم موجود دی. مزار مبارک ئې په پیښور کښې

حضرت مولانا اخندزاده سید عبدالحکیم بخاریؒ د دغه جلیل القدر

پلار او نیکه نامور فرزند وو. دینی علمونه ئې د خپل والد ماجد نه او د چچا

د حضرت میاں محمد عمر څمکنونه لوستلی وو. اوچه په علوم ظاهري کښې درسي

د کمال ورته حاصله شوه نو د طریقت او معرفت سبقونه ئې په طریقه نقشبندیه

کښې د حضرت میاں محمد عمر څمکنی علیه الرحمه نه اخیستی وو. د پیر صاحب

د خپل پیر طریقت په صحبت کښې تیر کړے وو. اوخرقه د خلافت ئې حاصل کړه

مسعود کل پاسنے د دې وئ په حقله لیکی :-

دا رنګ نقل کاندی میاں عبدالحکیم ∴ څمکنو کښې د پیر مدت وو م زله مقیم

دغه رنګ دادین هم د اخونزاده عبدالحکیم یو بیان نقل کړے دے. چاته د

د حضرت میاں محمد عمر قدس سرہٗ د دې خصوصیت معلومیږی. لیکی:-

د کاویل چه عبادت خانه خاصه وه ∴ د انوار د اسرار خلاصه وه

خادمان هم ورته ناست وو په حضور کښے ∴ په حضور دے کامل فانفس انور کښے

ولے نور شول مرخص د دغه ځایه ∴ یوزه پاتے ښ صاحب وو خوشحاله

حضرت سید اخوند عبدالحکیم بخاری د خپل پیر طریقت په اجازت سره

د ضلع مردان موضع ګجوکړۍ ته تشریف راوړے او دلته استوګن شوے وو. چه

روستو هم دلته په ۱۲۳۶ھ کښې وفات شو. د دې د قیام په برکت سره ګجوکړۍ د دینی

علمونو د درس او تدریس مرکز ګرځیدلے وو. اوچه په کوم جماعت کښې دې

درس ورکولو. روستو بیا هغه د میاں عبدالحکیم په جماعت مشهور شو. او

تر دیرے زمانے پورے د دینی علمونو د مشهور اداره ګنورد رسګاه حیثیت

لرلو. وچه ئې داوله چه د دے دینی درسګاه استاذان چه هغه پښت

پښت د میاں عبدالحکیم بخاری د خاندان افراد وو. هغه لوائے عالمان د

یکه کامل عارفان هم وو. اوپدغه وجه د دغوئ په درس کښې یو خاص قسم له

انوار برکت وو. داد ومره بخته رجماعت دے. چه کوم طالب علما نو پدے

کښې درس لوستلے دے. هغه پخپله زمانه د علمی فضیلت او شهرت اوچتے

مرتبے ته رسیدلی دی. لکه پدے نزدے زمانه کښې حضرت شیخ المشائخ اخوند

عبدالغفور المشهور بابا جی صاحب د سوات شو. یا مولانا پائنده محمد عثمان

خیل مهمند شو. چه دے دواړه هم په دے جماعت کښې درس لوستلے دے.

لکه چه مخکښې ورته اشاره اوشوه. د حضرت میاں عبدالحکیم بخاری د وفات نه

روستو د دې اولاد او نسو کښې هم د اسلام د ظاهری او باطنی علمونو د درس

او تدریس د اسلسله پاتے شوے ده. او دې پیرلوئ بزرګان او فاضلان عالمان پکښې

پیدا شوی دی. او د دینی علمونو د قلمی کتابونو یو ډیره لویه ذخیره ئې روستو راتلونکو نسلونو

لپاره پاتے ده چه دغنه د خدائ مخلوق ته لوئ فیض رسیدلے دے. او په خصوصیت

سره ما (عبدالحلیم اثر) ترینه پیره فائده اوچته کړې ده. جزاهم الله خیرالجزاء

هرکله چه د بخاری ساداتو د دے خاندان کورنئ د مغربی پاکستان په نورو ډیرو

کښو خورا شوی نه ده. په غیر د هغه خاندانونو نه چه په افغانستان کښې. یا په دے

کلی ګجوکړۍ کښې آباد دی. په دے وجه د حضرت میاں عبدالحکیم بخاری نقشبندیؒ د

اولادیو لاډ مختصره شان شجره دلته راوړلے شی. چه دے په ذریعه به دے مبارک خاندان

د روستو زمانے د بعض نامورو بزرګانو حالات هم معلوم کړلے شی.

د حضرت مولانا میاں عبدالحکیم بخاری د دوئ نوم سید عبدالرحیم وو. چه د هغه

د خامونو نومونه دادي :-

(۱) سید میر غیاث الدین چه بیا د دده د دوئ نوم سید حسن وو.

(۲) سید معظم الدین. چه د دده د دوئ نوم سید حمید شاه وو. او بیا د هغه

د دوه خامن وو. سید غنی شاه. سید احمد شاه.

(۳) سید میر حبیب الله چه د هغه دوئ نوم سید افضل شاه وو. چه په

تورمیان مشهور وو۔ اوبیا دَهغه پنځه ځامن وو۔ سید احمد۔ سید فضل محمد
سید ابوبکر۔ سید عبدالله۔ سید محمد

(۴) سید حمید چه دَهغه دَځوی نوم سید محمد عمر وو۔ اوبیا دَهغه شیر
ځامن وو۔ سید ابوالقاسم۔ سید رسول۔ سید عبدالله۔ سید غلام محمد
سید شاه رسول۔ سید محسن شاه۔

(۵) سید محمد عیان دَهغه دَځوی نوم وو۔ سید زرشاه دَهغه دَځوی نوم
وو سید علی اوبیا دَهغه دوه ځامن وو۔ سید ولی۔ سید خان ولی۔ په
دوی کښې بیا دَسید احمد ولد سید افضل شاه ولد سید میر حبیب الله
دوه ځامن وو۔

(الف) علی احمد چه بیا دَهغه درے ځامن وو۔ فضل رحیم۔ فضل دیان۔
فصیح اللسان۔ په دوی کښې دَسید فضل دیان دَځوی نوم سید عبیدالرحمٰن
دے چه ځما پیر مشفق دے۔

(ب) غلام حبیب چه بیا دوه پنځه ځامن وو۔ سید محمد امین۔ سید
روح الامین۔ سید نصرالله۔ سید سعدالله۔ سید عبدالمفتاح
چه په دوی کښې سید روح الامین نن ورځ قاضی شریعت دے۔

حضرت ابوبکر علیه الرحمة

په دوی کښې حضرت مولانا سید ابوبکر ابن سید فضل شاه ابن سید
میر حبیب الله دے مبارک خاندان په روستنو مشرانو کښې لوی فاضل
عالم اوکامل عارف وو۔ په ۱۳۰۹ھ کښې ئے په مقام دَبمبئی (بهارت) دَحضرت
سید محمد صالح قادری جیلانی نه په سلسله عالیه قادریه کښې بیعت کړی وو۔
حضرت موصوف چه دَاجازت ورله کوم لیکلے سند ورکړے دو۔ دَهغې دَاول سر
اوروستی یوځ جملے دلته درج کوو چه دے نه دَحضرت سید ابوبکر علیه
الرحمة دَمرتبے دَلوی والی اندازه لګول آسان شی۔ فرمائی:-

هذه شجرة اصلها اصیل وفرعها نبیل وحاملها رجل جلیل اسأل الله ان
یرزقه الاستقامة بحرمة سیدنا محمد المهبط علیه الوحی والتنزیل مفیتها
وانفقتها وانا افقر الورکی وخادم الفقراء السید محمد صالح القادری الجیلانی
..... اما بعد فان الرجل الصالح الکامل المقبل علی مولاه المعرض
عن سواه الراغب فی دار الآخرة الدرویش سید ابوبکر ابن سید فضل
شاه مرحوم جاء الینا بعد قدومنا فی ولایة بمبئی (من الهند) وطلب و
التمس منا الدخول فی سلک الطریقة القادریة فرأیته رجلا صالحا
فلقنته کلمة التوحید بادلة واضحة عن شیخی والدی السید الشیخ
خمیس القادری علیه الرحمة۔

په هغه زمانه چه بهر څومره دَمذهبی احکامو فتوی په برصغیر
پاک وهند کښې چاپ شوے دی۔ په هغے کښې په اکثرو باندے دَحضرت
مولانا شیخ ابوبکر علیه الرحمة مهر او دستخط موجود دے۔
باندے دَمشرورو مولانا سید احمد المعروف په "میاں صاحب دَ
کوجر کړهئ" مهر او دستخط دے۔

علیهم الرحمة والغفران۔